# ژغونه

اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د شـــوال ۲۱ مه، ۱٤٤٦ هـ.ق کال
وری/حمل ۳۰ مه، ۱٤۰٤ هـ.ش کـال

لومـړی کال، پرلـه پسـې لسـمه ګنه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## په دې ګڼه کې لولئ:


- **پکتیا** — په ۱۴۰۳ مالي کال کې ښرنې ښاروالۍ ریاست د تېر په پرتله (۶۴.۲) سلنه زیات عواید راټول کړي
- **غزني** — غزني ښار د دولت اباد سړک د لومړۍ برخې د جوړولو چارې روانې دي
- **پروان** — هیأت مختلط از جریان پروژه یک جاده فرعی شهر چاریکار نظارت به عمل آوردند
- **لغمان** — لغمان کې د ښاروالۍ له لوري د ۴ میلیونه افغانیو په لګښت د دوو پروژو چارې بشپړې شوې
- **کاپیسا** — د محمودراقي ښــاروالۍ له خوا د ده باباعلي د شــنبه بازار څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه
- **مزار شریف** — کار ســاخت سرک نصرت آباد ناحیه دهم شــهر مزارشریف جریان دارد
- **جلال اباد** — جلال اباد ښــار د یونپس همکارۍ مؤسســې لــه پروژوې خدمتونو څارنه ترسره شوه
- **بامیان** — حشر تنظیفی و کمپاین پاکی شهر توسط شاروالی بامیان راه اندازی شد
- **بادغیس** — جلســه ماهوار وکلای گذر قلعه نو ولایت بادغیس برگزار گردید
- **کنړ** — داسعداباد ښارپه څلورګونو ناحیو کې د سړک پراختیا په موخه عملي چارې پیل شوې
- **هلمند** — د ګرشک ښــاروالۍ له لوري د ښار د چریو او پلچکونو څخه نظارت ترسره شو
- **پکتیا** — د ښــاروالیو چارو ســمون عمومي رئیس د ګردیز ښاروالۍ ستونزې واورېدې


## لغمـان کې له پاکســتان څخـه راســتنېدونکو کډوالو لپاره موقتي پنډغالي جوړ شــو



لغمان

## د کندهار ښــار پــه پنځمه ناحیه، احمد شــاهي مېنه کې د سړک رغولو چارې ۹۰ ســلنه بشپړې شوې دي




کندهار

## د مهترلام ښــاروالۍ لــه داخلـي بودیجې د لس میلیونه افغانیو په لګښــت د سړک د جوړېدو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



لغمان

دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

رغونه اونیزه


سری چوک الی چمن مرکزی شهر آیبک ولایت سمنگان نظارت و کنترول گردید و برای دکانداران توصیه شد تا در قسمت پاک نگهداشتن مقابل دکان های خویش و جلوگیری از شکسته شدن گلدان ها و قطع گل ها، و باز نمودن اطراف گلدان ها از موجودیت دست فروشان مسؤولیت خویش را اداء نمایند.



سمنگان ۱

## په ۱۴۰۳ مالي کال کې ښرنې ښاروالۍ ریاست د تېر په پرتله (٦٤.٢) سلنه زیات عواید راټول کړي

ښرنې ښاروالۍ ریاست په ۱۴۰۳ مالي کال کې د نورو کلونو په پرتله (٦٤.٢) سلنه زیات عواید راټول کړي، چې زیاته برخه یې ښار کې په اړتیا وړ خدمتونو او پراختیایي پروژو مصرف شوي دي.

دغه خرګندونې ښرنې ښاروال مولوي سرداروليٰ ثابت له پکتیکا ملي راډیو تلویزیون سره د مرکې پرمهال وکړې.

نوموړي زیاته کړه؛ ښرنې ښاروالۍ په ۱۴۰۳ مالي کال کې د ثابتو او غیرثابتو عوایدو له مدرکه شاوخوا (٣٦.٦) میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي، چې دا شمېره د ۱۴۰۲ مالي کال د راټول شویو عوایدو په پرتله (٦٤.٢) سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

ښاغلي ثابت د عوایدو ډېرېدو عمده علتونه د پکتیکا ولایت مقام رهبري او نورو ادارو دوامداره او اخلاصمندانه همکاري، د ښاروالۍ ریاست د اداري پرسونل کاري ژمنتیا او همدارنګه د ښاریانو له لوري په خپل وخت د عوایدو جمع کول وبلل او ډاډ یې څرګند کړ، چې د ښاریانو راټول شوي عواید به بېرته په شفاف ډول ښار کې په اړتیا وړ خدماتي پروژو مصرف کوي.

دغه راز ښرنې ښاروال د روان ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پلان شویو پروژو په اړوند هم معلومات شریک کړل او زیاته یې کړه، چې هڅه به وکړي د ښاروالۍ له خپلې بودیجې څخه د (۲۱) میلیونه افغانیو په ارزښت ښار کې بېلابېلې اړتیا وړ خدماتي پروژې تطبیق کړي.

پکتیکا ۲

## لغمان کې له پاکستان څخه راستنېدونکو کډوالو لپاره موقتي پنډغالی جوړ شو



لغمان ۳

د ولایت مقام د حکم پر اساس د یو ګډ کمېسیون له لوري د لغمان قرغیو ولسوالۍ سرخکانو ساحه کې له پاکستان څخه بېرته راستنېدونکو مهاجرینو لپاره موقتي پنډغالی جوړ شو.

یاد پنډغالی د مهاجرینو ریاست په مشرۍ د یو ګډ کمېسیون له لوري چې مهترلام ښاروالۍ، امنیه قوماندانۍ، استخبارات، صنعت او سوداګرۍ، سرې میاشتې او د پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست مسؤولینو له لوري جوړ کړل شو.

مهترلام ښاروال الحاج مولوي رحمت الله شهامت چې د پنډ غالي د جوړېدو پرمهال یې شتون درلود وویل چې یاد پنډغالي کې د کډوالو لپاره هر ډول اسانتیاوې په نظر کې نیول شوي دي، چې د اوبو او ترانسپورټ خدمتونه د ښاروالۍ له خوا او نور د اړتیا وړ توکي د همکارو ریاستونو له لوري وړاندې کېږي.

د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې هم لغمان ولایتي اداري او همکارو ریاستونو له لوري مهاجرینو لپاره ګڼ شمېر اسانتیاوې برابرې شوې وې.

## جلال اباد ښار دریمه او اوومه ناحیه کې د ګلدانونو خړوبولو چارې رواني دي



ننګرهار ٤

د جلال اباد ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ امریت له لوري د دریمې او اوومې ناحیې د سړکونو ترمنځ ګلدانونو کې د بوټو د اوبو کولو چارې رواني دي.

د تنظیف او سرسبزۍ امریت هره ورځ د سهار له شپږو بجو د مازدیګر تر درې نیمو بجو پورې د ښار د عمومي جادو او ګلدانونو د اوبو کولو چارې ترسره کوي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښار د ښکلا په موخه د زینتي بوټو پالنه په ښه شکل ترسره کړي.

## مزارشریف ښاروال؛ پراختیایي پروژې دې په ښه کیفیت او ټاکلي وخت بشپړې شي



بلخ ٥

مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت د مزار ښاروالۍ ته څېرمه څلور لارې او شاوخوا ګلدانیو جوړولو او بیارغولو چارو څخه لیدنه ترسره کړه.

د لیدنې پر مهال یې د څلور لارې او شاوخوا ګلدانیو په اساسي او عصري ډول جوړولو او بیارغولو په موخه قراردادي شرکت مسؤل او ښاروالۍ انجنیري ټیم ته اړینې سپارښتنې وکړې.

همدارنګه ښاغلي همت زیاته کړه؛ د مزارشریف ښار ښکلا او ښېرازۍ لپاره دې نوموړې پروژه په ښه کیفیت او ټاکلي وخت بشپړه شي.

بل خوا مزارشریف ښاریانو د ښاروالۍ له کړنو او فعالیتونو هرکلی وکړ او د نوموړې پروژې له پلي کېدو یې خوښي وښوده.

## مزارشریف ښار کې د قصابانو صنف حفظه الصحي او نرخ پاڼې څخه څارنه ترسره شوه




بلخ ٦

د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت په لارښوونې د ښاروالۍ مارکیټونو تنظیم او پراختیا امریت کارکوونکو له لوري د ښار دویمې او څلورمې ناحیې اړوند سیمو کې د قصابانو صنف حفظه الصحي او نرخ پاڼې څخه څارنه ترسره شوه.

د څارنې پر مهال د قصابانو صنف هټۍوالو ته سپارښتنه وشوه ترڅو د پېر او پلور پر وخت دې انصاف په پام کې ونیسي او د مزارشریف ښاروالۍ نرخ پاڼه دې تطبیق کړي.

همدارنګه د حفظه الصحي مراعتولو په موخه هم د قصابانو صنف هټۍوالو ته لازمې لارښوونې او توصیې وشوې ترڅو د ساري امراضو خپرېدو څخه مخنیوی او ښاریان د بېلابېلو ناروغیو څخه په مان وي.

## د پل‌علم ښـــاروالی له لوري تنظیفاتي چارې په دوامداره توګه جریان لري




د پل‌علم ښاروالی د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت زیارکښه کارکوونکــو لخوا د پل‌علم ښــار ښلابښلو برخو کې د ښــار د پاکوالي چارې دوام لري.

د دغو چارو په دوام د پل‌علم ښــار اړوند د هوټي سفلا سیمې لښتي پاک، کثافات يې راټول او له ښار څخه لرې ټاکل شوي ځای ته ولېږدول شول.

د پل‌علم ښاروالی د ښــار پاکوالي ته ځانګړې پاملرنه کوي او په ښار کې تولید شوي کثافات پر وخت ټاکل شوي ځای ته انتقالــوي؛ ترڅو ښــاریان له پاک او منظم ښــار څخه برخمن واوسي.

## فعالیت‌های تنظیفی در شهر میمنه ادامه دارد




مدیریــت تنظیف و سرسبزی شــاروالی میمنــه ولایت کاریاب بــه منظور تأمین پاکیزگی، نظم شــهری و ایجاد محیطـــی پاک و زیبا، امروز شــنبه مطابــق پلان کاری، فعالیت‌هــای تنظیفــی خویش را در بخش‌هــای مختلف شهر ادامه داد.

سرک ریاســت معارف ناحیه سوم، گذر گرمسیلی ناحیه دوم، گذر بلوچخانه، سرک شفاخانه، تپه شهدا جوار لیسه خراسان، چهارراهی پخل‌بازار و ســایر بخش‌های شهر میمنه از وجود کثافات پارک کاری گردید.

شــاروالی میمنه ضمن تلاش در راســتای پاک‌کاری شهر و بهبود شرایط زندگی شهروندان، از همه همشهریان تقاضا می نماید تــا با حفظ فرهنــگ شهرنشــینی در کاهش زحمات کارکنان بخش تنظیف همــکاری نمایند و در زیبایی و زینت شهر خود سهم فعالانه داشته باشند.

## اعضای کمیسیون نظم شــهر از ساحات مختلف شهر پلخمری نظارت کردند




اعضای کمیسیون تنظیم شــهری که در ترکیب آن نماینده ریاســت شــاروالی پلخمری ولایت بغــلان، آمریت تنظیم ترافیک، آمریت گارمیزیون شــهری حضور دارند امروز شنبه (۲۳ حمل) به هدف پاک ســازی شاهراه عمومی مزار کابل با عبور از جــاده ولایت، صحت عامه و نقاط مزدحم شــهر نظارت نمودند.

در جریان نظارت برخی مکان ها که توســط دست فروشان مسدود گردیده بود بازگشائی گردید و از کسبه کاران خواسته شد تا با گذاشتن وسایل باعث مسدود سازی راه نگردند.

رهبری شــاروالی پلخمری ولایت بغلان از شــهروندن این شــهر میخواهد تا وســایط نقلیه خویش را در نقاط مزدحم شــهر پارک ننموده و در قســمت نظم شــهری با این اداره همکاری نمایند.

## د زرغــون چاپېريال رامنځتــه کولو په موخــه د کندهار ښاروالی هڅې جریان لري

د کندهار ښاروالی د سرسبزۍ امریت له لوري د ښاري ښکلا او سمســورتیا په موخه د ۱۵مې ناحیې اړوند د ښــکار پور دروازې ســرک په ۲۷۰۰ متره ګلدان کې شاوخوا ۵۵۰ عدده د ناجو نیالګي په منظم او معیاري ډول کېنول شول.

د سرسبزۍ مریت به د دغو نیالګیو د پالنې او اوبو کولو چــارې هم په دوامداره او منظم ډول ترسره کوي، ترڅو دا زرغــون کمربند دوام ولري او ښــاري چاپېريال لا ښکلی شي.

**درنو ښاریانو!**

کندهار ښاروالي د ښاري نظم ټینګښت او زرغونو ساحو د پراختیــا په موخــه خپلې هڅې رواني ســاتي ترڅو ښاري ښکلا رامنځته او د ټولو ښاریانو لپاره د هوساینې زمینه برابره شي؛ نو هیله ده، چې تاســو هم د ښــار د زرغونتیا، پاکوالي او سمسورتیا په برخه کې له کندهار ښاروالی سره همکاري وکړئ.



## د جلال اباد ښــاروال قاري بســم الله بلال د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس او مسؤولینو سره ناسته ترسره کړه

د جلال اباد ښاروال قاري بلال د ښاروالی د تخنیکي او ســکتوري چارو رئیس انجینــر وحیدالله مخلص، د ســاختمان امر انجینر شوکت شاکر، د پلان امر انجینر جاوید جهانمــل او د ناحیو انجینرانــو سره د پروژوي خدمتونو د کیفیت، نظــارت او غوره ترسراوي په موخه ناسته ترسره کړه.

د جلال اباد ښــاروال قاري بلال وویل؛ د ســاختماني پروژو د نظارت او بررســۍ په برخه کې ټول مســؤول اشخاص مکلف دي.

له ټولو داخلي او همکارو مؤسســو د پروژوي خدمتونو کیفیت او کمیت باید په جدي ډول وڅارل شي.

د تخنیکي او ســکتوري چارو ریاســت د مسؤولینو له لــوري د ټولو داخلــي او همکارو موسســو د پروژوي خدمتونو له کارونو د بشپــړ نظارت ډاډ ورکړ شــو او د تخنیکي او ســکتوري چارو ریاست او ناحیې انجینرانو له لــوري د یوې ګډې کمېټې په مشرۍ د ټولو پروژو د څارنې لپاره هیئت ته دنده وسپارل شوه تر څو کارونه د تېر پــه خبر له نږدې وګوري او راپورونه يې اړوندو برخو سره شریک کړي.

د جلال اباد ښــاروالی رهــبري او تخنیکي ټیم د ټولو پــروژوي خدمتونو د څارنــې او مراقبت په برخه کې په دوامداره توګه نظــارت ترسره کوي او تــول قراردادي شرکتونه مکلف ګرځول شــوي ترڅو پــه معیاري ډول ساختماني پروژې پلې کړي.



## خوســت ښــار په څلورمه ناحیه کې د اصلاحي بیانونو ناسته وشوه




د خوســت ښاروالی د ارشاد او دعوت مدیر مولوي شفیق الله د ښاروالی اړوند څلورمې ناحیې مسؤولینو ته د یوې ناستې پر مهال اصلاحي بیان وړاندې کړ.

ناســته کې مولوي شفیق الله د لمانځه پر ارزښت، د الله (ج) د توحید پر مفاهیمو او په اسلام کې د والدینو پر مقام خبرې وکړې.

نوموړي ټینګار وکړ چې د ټولنــې اصلاح د فرد له اصلاح څخه پیلیږي.

د یادونې ده، چې د یاد مدیریت له لوري د مرکزي ښاروالی په شــمول د ښار په اووګونو ناحیو کې په منظم شکل د اسلامي بیانونو او اصلاحي ناستو لړۍ روانه ده.

# رغونه اونیزه

## د ولایاتـو او ولســوالیو ښـاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامی امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


### غزني ښار د دولت اباد سـړک د لومړی برخې د جوړولو چارې رواني دي




د اربابا صاحب د سړک په امتداد د دولت اباد د سړک جوړولو پروژې چارې چې تیر کال د ښاروالۍ ریاست او ملګرو ملتونو پروژوي خدمتونو د دفتر په همکارۍ پیل شوې وې او د ژمي د یخنۍ له امله یې کارونه نیمګړي پاتې شــوي و، اوس مهال یې کېندنو، خاورې لېږدولو، هوارولو او د سړک په اوږدو کې د لښتیو د جوړولو چارې رواني دي.

د پروژې مسؤل انجنیر عبدالله مجاهد په دې اړه وویل؛ د اربابا صاحب د سـړک په امتداد د دولت اباد پروژې چارې د ٦٠٠ متره پــه اوږدوالي، ٦ متره پلنوالي او ٦٠٠ متره د لښتــي د جوړولو چارې رواني دي چې د یوې میاشتې په موده کې به د کانکریټ په بڼه جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دغه پروژه چې د دولت اباد په دویم ګذر کې تر کار لاندې ده، یو شمیر د سیمې اوسېدونکو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

د معیاري ښار د جوړولو په موخه د غزني ښاروالۍ رهبرۍ تل هڅه کوي، ترڅو په ښار کې د ګڼې ګوڼې د مخنیوي په موخه او اقتصادي ودې لپاره د سړک جوړونې پروژې زیاتې او په ښه کیفیت پلې کړي.




شاروالی ولسوالی بگرام ولایت پروان بـه تعداد ۴۵۰ اصله گل مرسـل را به منظور تزئین و زیبایی شـهـر در ناحیه اول بگرام در گلــدان سرک بازار دهن میدان هوایی بگرام غرس نمود .

### اهدای یکعراده واسطه شخصی جهت استفاده به عنوان امبولانس در شاروالی انجیل




یک تن از باشــندگان ولســوالی انجیل ولایت هرات یکعراده واسطه شخصی خویش را به شاروالی این ولسوالی اهدا نموده اســت تا از آن به عنــوان امبولانس جهت انتقــال مریضان استفاده گردد.

محمد داود فرزند عبدالشــکور باشــنده ناحیه سوم ریاست شــاروالی انجیل ولایت هرات با حضورداشت مقامات محلی این ولســوالی یکعراده فلانکــوچ ۲۰۰۴ خویش را به منظور انتقال مریضان به ریاست شاروالی ولسوالی انجیل اهدا نموده اســت تا از آن در انتقال مریضان منحیث آمبولانس استفاده گردد.

### هیــأت مختلط از جریــان پروژه یک جاده فرعی شــهر چاریکار نظارت به عمل آوردند




هیأت مختلط متشکل از نمایندگان مقام ولایت پروان، ریاست شهرسازی ولایت پروان و ریاســت اقتصاد ولایت پروان با تیم انجنیری شــاروالی چاریکار از جریــان کار پروژه بیش از یک کیلومتر جاده فرعی در ناحیه ســوم و چهارم شــهر چاریکار نظارت نمودند.

هیأت متذکره از چگونگی پیشرفت پروژه مذکور، کیفیت مواد به کار گرفته شده، ساحه تحت پوشش و مفاد آینده این پروژه در عرصه ساخت و ساز شهری نظارت کردند.

تیــم انجنیری شــاروالی چاریــکار با تیم انجنیری ســکتور خصوصــی در مورد چالش‌هــای کار پــروژه و چگونگی حل معضلات با هیأت مختلط سروی صحبت کردند.

قابل ذکر اســت که هیأت مقام ولایت، شهرسازی و اقتصاد از کیفیت کار پــروژه ابراز خرســندی کردنــد و در عرصه حل معضلات وعده همکاری سپردند.

### خوســت ښــار د ورغه کلي مرکزي لېسه کې د بیارغونې چارې رواني دي




د خوست ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ له لوري، د ورغه کلي لیســي د ښــاروالۍ کمېټې په همکارۍ، د یادې لیســې د چاپېریال د ښه والي په موخه پراخې چارې پیل شوې دي.

دا چارې چې د سرســبزۍ، تنظیف، عامــه پوهاوي او رغنیزو فعالیتونو څخه عبارت دي، په منظم او همغږي ډول رواني دي.

د کمېټې په هڅو د لېسې انګړ پاک شوی، شنې ساحې پرې کرل شــوې، زاړه او زیانمن ځایونه ترمیم شوي او د زده کوونکو ترمنځ د چاپېریال ساتنې په اړه د پوهاوي پروګرامونه هم ترسره شوي دي.

د یادونــې ده، چې اوس مهال، د دغو هڅو له امله د لېســې چاپېریــال د پام وړ بدلون موندلی او د زده کوونکو لپاره یې یو پاک، منظم او الهام بښونکي فضا برابره کړې ده.

### لغمان کې د ښــاروالۍ له لــوري د ۴ میلیونه افغانیو په لګښت د دوو پروژو چارې بشپړې شوې




لغمان کې د مهترلام ښــاروالۍ لــه داخلي بودجې څخه د ۲ میلیونه افغانیو په لګښت د لومړۍ ناحیې اړوند د سطان غازي بابا ښارګوټي دروازې څخه تر شهید عبدالله پښتون خلورلارې پورې د بربښــنایي تنویري پایو د لګولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

بل اړخ تــه بیا د څه کــم دوه میلیونه افغانیو په لګښــت د پنځمې ناحیې پــه مربوطاتو کې د ده مَلــخ له پله څخه تر قراګاه پورې د بربښــنایي تنویري پایــو د ترمیم چارې هم ترسره شوې دي.

د مهترلام ښار اوسیدونکي د ښاروالۍ له فعالیتونو خوشاله دي او وایي چې د تنویري پایو ترمیم او لګولو سره د ښار ښکلا زیاته شوې او تر ډېره د تګ راتګ سهولتونه برابر شوي.

# رغونه اونیزه

## د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامی امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


### مهترلام ښار د شهید مولوي حبیب الرحمن پارک د احاطې چارې بشپړې شوې



لغمان ۱۹

د مهترلام ښاروالۍ له داخلي بودجې د دوه میلیونه افغانیو په لګښت د مهترلام ښار د دویمې ناحیې اړوند د شهید مولوي حبیب الرحمن پارک د احاطې د جوړېدو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

په دغه پروژه کې د ۱۰۲ متره په اوږدوالي او ۶۰ متره په پلنوالي سره احاطه، دوه دروازې او کټارې شاملې وې چې کارونه یې په اساسي او معیاري شکل ترسره شول.

د یادونې وړ ده چې په یاده پروژه کې په ورځنۍ ډول ۲۰ کسانو ته د کار کولو زمینه هم برابره شوې وه.

### غزني ښاروالۍ د بازار په بېلابېلو سیمو کې خار او کنټرول ترسره کړ




غزني ۲۰

د مارکېټونو د تنظیم مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو بازارونو کې یو شمېر رستورانتونه او نانوایۍ چک او له حفظ الصحې څخه خارنه ترسره شوه.

د مارکېټونو د تنظیم مدیر ضیاءالرحمن رشیدي د یادو هوټلونو مسؤلینو ته د صحت کارتونو په جوړولو او د ډوډۍ د پوره وزن درلودلو ټینګار وشو او ټول د هوټلونو مسؤلین مکلف دي چې خپلو کارمندانو ته د صحت کارتونه جوړ کړي ترڅو ناروغي نورو هېوادوالو ته خپرې نشي.

نوموړي همدارا زیاته کړه؛ هغه کارکوونکي چې د عامې روغتیا ریاست له لوري روغ ور وپېژندل شي کولی شي په هوټلونو او عامه ځایونو کې کار وکړي همدارنګه بې له صحت کارت څخه هیڅوک نشي کولی په هوټلونو او اشپزخانو کې کار ترسره کړي.

نظافت د ایمان یوه برخه ده نو راځئ چې د ځان، کور او بیا د ښار نظافت ته ځانګړې پاملرنه وکړو.

### ګردیز ښاروال؛ د ښار ښکلا په موخه پر مارکیټونو د الوکوبان نصب چاره باید چټکه شي




پکتیا ۲۱

ګردیز ښاروال حبیب الله اخندزاده حامد پر یو شمېر مهمو ښاري موضوعاتو د ښاري اتحادیې له مسؤلینو سره ناسته وکړه.

په دې ناسته کې چې د ښاري اصنافو زیات شمېر مشرانو ګډون کړی و، ګردیز ښاروال د دوی سره ناستې پر مهال وویل، چې الحمدالله ا.ا په راتګ سره د هیواد امنیت تامین دی او اوس وخت د دې را رسیدلی، چې په ګډه د هیواد او خاورې لپاره خدمت او کار وکړو.

ښاروال د ښار ښکلا په برخه کې د خصوصي سکتور او مارکیټونو مالکینو لخوا پر مارکیټونو د الوکوبان نصبولو باندې خوښي وښوده او وې ویل، پکار ده چې زمونږ هر هیوادوال د هیواد ابادۍ او خلکو په وړاندې د مسؤلیت احساس وکړي او په دې برخه کې خپلې هڅې ونه سپموي.

ښاروال د دواړو لوریو د همکارۍ او همغږۍ پر ساتنې او دوام تاکید وکړ او د دې خدماتي اداري سره ملاتړ یې د ټولنې د هر فرد دیني او انساني مسولیت وګاڼه.

د ناستې په وروستیو کې ښاري اتحادیې غړو د ګردیز ښاروال د ابادۍ احساس د ستاینې ترڅنګ ژمنه وکړه، چې په ټولو ښاري امورو کې به د ګردیز ښاروالۍ سره یو ځای ګډ کار ته دوام ورکړي او پر یو شمېر پاتې مارکیټونو به د الوکوبان پروسه ګړندۍ کړي.

**کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی شکردره ولایت کابل به منظور پاکی و صفایی و حفاظت از محیط زیست این ولسوالی، کثافات بازارهای شاه مردان، حسین کوت، قلعه مرادبیک و کوچکیـن را امروز جمع آوری نمودند و به مکان مناسب آن انتقال دادند.**




شکردره/ کابل ۲۲

### د محمودراقي ښاروالۍ له خوا د ده باباعلي د شنبه بازار څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه



کاپیسا ۲۳

د بازارونو د منظمې څارنې او کنټرول په لړ کې، د محمودراقي ښاروالۍ کارکوونکو نن شنبه د ده باباعلي د شنبه بازار څخه څارنې چارې ترسره کړې.

دغه څارنه چې د ښاري نظم د ټینګښت، د چاپېریال ساتنې او د ښاري اصولو د تطبیق په موخه ترسره شوه، د پلي لارو خلاص ساتل، د غړیزې ګڼګوتیا مخنیوی، د ښاري تخلفاتو مخنیوی، د معیاري تیګو څخه په راکړه ورکړه کې استفاده او یو شمېر نور مهم موارد شامل وو.

ښاروالۍ ډاډ ورکوي چې دا ډول څارنې به په دوامداره توګه ترسره کېږي څو ښاري چاپېریال لا منظم، پاک او د اوسېدونکو لپاره مناسب وي.

### ترینکوټ ښاروالۍ کې د OHA مؤسسې له استازو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه

په ترینکوټ ښاروالۍ کې د ښاروالۍ د مالي او اداري چارو عمومي مدیر رحمن الله رحماني او د تخنیکي او مسلکي چارو عمومي مدیر خالقداد امیني په مشرۍ، د OHA د بشري مرستو مؤسسې له ولایتي مسؤل عبدالهادي نورزي سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه.

یاده ناسته د ښاروالۍ د ریاست په همغږۍ، د ساحوي کارونو د تنظیم او د یادې مؤسسې د پروژو د تطبیق په اړه وه.

په غونډه کې د دواړو لورو ترمنځ په ښار کې د فعالیت لپاره د کافي شمېر کارګرانو د شتون، د راپورونو پر وخت شریکولو، د ښاري سیمو د ستونزو د حل او یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو بحث وشو.

ښاغلي نورزي په غونډه کې ډاډ ورکړ چې د کارګرانو په شتون سره به د ښار ډېرې ستونزې حل شي، د کثافاتو په راټولولو او کنټرول کې به اسانتیاوې رامنځته شي او د ښاري خدمتونو په برخه کې به د پام وړ بدلونونه راشي.

ارزګان ۲۴

## کندهار ښــاروالی د ښار په اوله ناحیه، څلورم ګذر کې د وچ مانده سنګ کاري کولو چارې پیل کړې دي




کندهار ښــاروالی د خپلو انکشــافي کارونو په دوام دا ځل د اولې ناحیې اړوند په څلورم ګذر کې د وچ مانده ســنګ کاری کولو چارې په اساسي او معیاري ډول پیل کړې دي.

دا مانده چې یوه میاشــت مخکې یې رغنیــزې چارې پیل شــوي دي، تر دې دمه سې ۴۰ سلنه کارونه مخته تللي دي او پاتــه کارونه به یې د دوو میاشــتو په مــوده کې پای ته ورسیږي.

یاده مانده شــاوخوا ۵۰۰ متره اوږدوالــی، ۴ متره پلنوالی او ۳،۵ متره ژوروالی لري، چې په اساسي ډول به ورغول شي.

دا مانــده د اضافي اوبو د تیرولو لپاره جوړیږي، چې له امله به یې د سیمې اوسېدونکي د سیلابونو، بدبویۍ او نورو احتمالي پیښو څخه خوندي پاتې شي.

په دې انکشــافي پروژه کې هره ورځ ۹۰ کسانو ته د کار کولو زمینه برابره شوې ده، ۱۵ کسان په مسلکي ډول او ۷۵ کسان په غیري مسلکي ډول کار کوي.

د سیمې خلکو د دې پرمختیایي پروژې له رغاونو چارو څخه خوښي وښــوده او د کندهار ښــاروالی څخه یې ځانګړې مننه وکړه.

**جلســه انتخاب معاون بورد مشــورتی شاروالی بامیان با اشتراک اعضای بورد در مقر شاروالی دایر گردید که مطابق طرزالعمل قاری محمد نادر اکبری نــژاد به عنــوان معاون بورد مشــورتی انتخاب گردید و توســط مولــوی روزی محمد افکار شاروال بامیان به دفتر کاری بورد مشورتی معرفی شد.**




## د جلال اباد ښاروال قاري بسم الله بلال سره د اصنافو او هتۍ والو خوني رئیس او مسؤولینو ناسته ترسره کړه




د جلال اباد ښاروال قاري بلال سره د جلال اباد ښار د اصناف خوني رئیس حاجــي بازمحمد څوانمل او د اصنافو خوني استازو د ښاري نظم، د ښار د اصنافو د ستونزو او یو شمېر نورو اړینو موضوعاتو په تړاو ناسته ترسره کړه.

د جلال اباد ښــاروال قاري بلال د ښــه راغلاست ترڅنګ د ښــاري پراختیا، ښــاري نظم او ښــار پاکوالي په برخه کې د اصنافو د خونې ونډه مهمه وګڼله او په ټولو برخو کې یې د غوره همغږۍ تأکید وکړ.

نوموړي وویل؛ ښــاروالی غیر بودیجوي اداره ده، د ښاریانو د صفايي د محصول، جوازونو او نورو اصولي عوایدو د راټولولو له مخې ښاري خدمتونه وړاندې کوي.

د اصنافو خونه باید د ښــاروالی د قانوني او اصولي عوایدو د ورکړې په برخه کې تل پاتې همکاري وکړي.

د ښار په ښکلا او سرسبزۍ کې به دوه اړخیزه همکاري کوو.

په عمومي او فرعي ســړکونو د غرفو اېښــودلو مخالف یو او په تدریجي ډول بــه د بدیلو ځایونو په کتنه ټولې لګول شــوي غرفې له سړکونو پورته کوو.

د اصنافو خونــې رئیس حاجي بازمحمد څوانمل د جلال اباد نوي ښاروال ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل؛ د اصنافو او هتۍ والو خونه تل د جلال اباد ښاروالی سره همکاره پاتې شوې.

دا چې د جلال اباد ښــار د مســاحت له مخې کوچنی دی نفوس یې ورځ تر بلې زیاتیــږي هیله ده په پراخوالي کې یې لازم اقدامات ترسره شي.

د ځینو لاس پلورونکو له لوري ښــاري نظم خراب شــوی، د ښاري نظم او دســپلین په برخه کې د ښاروالی له کارکوونکو سره اوږه په اوږه کار کولو ته چمتو یو.

د ځینو صنفونو لپاره باید د ښــاروالی له لوري مناسب ځایونه ترتیب او هلته انتقال شي.

د یو شــمېر نورو اصنافو مسؤولینو له لوري ځینې غوښتنې او وړاندیزونه هم په مخامخ ډول د جلال اباد ښــاروال ته وړاندې شول چې د حل په موخه یې ډاډ ورکړ شو.

د جلال اباد ښــاروالی رهبرۍ هڅه کوي چې په ښــار کې د بېلابېلو صنفونو لپاره د بدیلو او مناسبو ځایونو په کتنه د ښاري نظم په موخه لازم اقدامات ترسره کړي.

## کار ساخت سرک نصرت آباد ناحیه دهم شهر مزارشریف جریان دارد




به منظور ایجاد تســهیلات بیشتر برای شــهروندان و توسعه معیاری شهر مزارشریف، کار ساخت سرک نصرت آباد به طول ۱۱۰۰ متر و عرض ۱۲ توســط شاروالی مزارشریف به حمایت مالی دفتر خدمات پروژوی ســازمان ملل متحد در مربوطات ناحیه دهم شهر پیشرفت خوبی کاری دارد.

در پروژه مذکور ســاخت آبروهای کنــاری و اعمار ۳۵ پلچک معیاری در مســیر سرک نیز شامل می‌باشــد که روزانه برای ۲۵۰ تن افراد مســلکی و غیر مسلکی زمینه اشتغال زایی نیز فراهم شده است.

کار ساخت این سرک در آینده نزدیک تکمیل و به بهر برداری می رسد که با تکمیل آن تســهیلات متعدد برای عبور و مرور وسایط نقلیه و شهروندان فراهم خواهد شد.

## جلســه کمیته هماهنگی و روابط عامه شــاروالی میمنه برگزار شد




نخســتین جلسه کمیته روابط عامه و کمیسیون نظم و توسعه شــهری به ریاســت مولوی شــمس‌الدین محمدی، رئیس اطلاعــات و فرهنگ ولایت فاریاب با حضــور اعضای کمیته برگزار گردید.

اعضای این کمیته متشکل از نمایندگان مقام ولایت، ریاست های ارشاد، حج و اوقاف، شاروالی میمنه، امر به معروف و نهی از منکــر، مخابرات و تکنالوژی و آمریــت رادیو تلویزیون ملی فاریاب می باشد.

مولوی شــمس الدین محمدی، رئیس اطلاعــات و فرهنگ ولایت فاریاب در ســخنانش روابط عامــه را ابزاری مهم برای نزدیکســازی مردم با حکومت خواند و بر اطلاع‌رسانی مؤثر، همکاری مشترک و اجرای مسئولانه وظایف تأکید کرد.

اعضای کمیته تعهد سپردند که همکاری لازم را انجام داده و از ظرفیتهــای رســانه‌ای و اجتماعی بــرای بهبود وضعیت شهری بهره خواهند گرفت.

رغونه اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## جلسه هماهنگی میان ریاست شاروالی چاریکار و آمریت آبرسانی پروان تدویر گردید




جلسه هماهنگی حل چالش‌های شهری میان ریاست شاروالی چاریکار و آمریت آبرسانی ولایت پروان با حضور مسؤولین شاروالی، نماینده ریاست شهرسازی پروان و کارشناسان انجنیری و آبرسانی در دفتر شاروالی چاریکار دایر گردید.

هدف این جلسه دریافت راه‌حل مشکلات و چالش‌های اداره شاروالی با آمریت آبرسانی و تطبیق هرچه بهتر پلان های شهری خوانده شده است.

قابل ذکر است که تعدادی جاده‌های اصلی و فرعی ساخته شده توسط ریاست شاروالی چاریکار به اثر پاره شدن پایپ های آب آشامیدنی طی سال‌ها تخریب شده اند که در این جلسه روی ساختن میکانیزم حل این معضل گفتگو شد.

مسؤولین آمریت آبرسانی پروان می گویند که علت اصلی تخریب جاده‌ها توسط خطوط آبرسانی استهلاک شبکه‌ها می باشد و تلاش برای حل این مشکل جریان دارد.

## د مزارشریف ښاروالۍ په اوله ناحیه کې د یو سړک جوړولو چارې په چټکۍ او ښه کاري کیفیت سره روانې دي




د مزارشریف ښاروالۍ له داخلي عوایدو څخه د شاوخوا ۴ میلیونه افغانیو په لګښت د ۴۵۰ متره په اوږدوالي او ۷ متره په سور سره د ښار په اوله ناحیه کې د قاضي سرای لوبدیځ لوري سړک د کانکریټ کولو چارې تر پسته مزار پورې په چټکۍ او ښه کاري کیفیت سره روانې دي.

همدارنګه د سړک دواړو غاړو لښتیو جوړولو( کانکریټ اچولو) چارې ۳۰ سلنه پرمخ تللي او د سړک بنسټیزي چارې په ژر پیل شي.

د ښار په اوله ناحیه کې د قاضي سرای لوبدیځ لوري سړک په جوړیدو سره به تر پسته مزار پورې د دې سیمې اوسېدونکو او نقلیه وسایطو تګ راتګ ته ګڼې اسانتیاوې برابرې شي.

## جلال اباد ښاروال قاري بسم الله بلال سره د نهه ګونو ناحیو د ګذر وکیلانو ناسته ترسره کړه




د جلال اباد ښاروال قاري بلال، د ښاري حکومتولی رئیس مولوي سیف الرحمن شینواري، د مجالسو او شوراګانو امر حشمت الله خان او نورو مسؤولینو سره د جلال اباد ښاروالۍ اړوند نهه ګونو ناحیو د ګذر وکیلانو د ښاري پراختیا، پروژوي خدمتونو او یو شمېر نورو پراندیزونو په موخه ناسته ترسره کړه.

د جلال اباد ښاروال قاري بلال د ښه راغلاست ترڅنګ د ښاري نظم، عوایدو راټولولو او له ولسونو سره د غوره اړیکو په برخه کې د ګذر وکیلانو ونډه مهمه وګڼله او په دوه اړخیزو اړیکو یې ټاکید وکړ.

د ګذر وکیلانو په استازیتوب د نهه ګونو ناحیو استازیو خبرې وکړې او د خپلو ناحیو ستونزې یې په مستقیم ډول د جلال ښاروال او مسؤولینو سره شریکې کړې.

د جلال اباد ښاروال له لوري په بېلابېلو برخو کې ډاډ ورکړل شو او د ولسونو د عامه پوهاوي، ښاري پاکوالي او د ښاروالۍ له کارکونکو سره د همکارۍ په موخه د ګذر وکیلانو ته سپارښتنې وشوې.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې تل د ګذر وکیلانو او ولسونو ستونزې په مخامخ ډول واوري او د حل په موخه یې لازم اقدامات ترسره کړي.

## د خپلو ګټو په خاطر عامه پروژې مه زیانموئ




د خوست ښاروالۍ له لوري، ستاسو ښاریانو له عوایدو، ګڼې رغنیزې پروژې تطبیق شوې دي، او ځینې لا هم تر کار لاندې دي، چې میلیونونه افغانۍ لګښت پرې راغلی دی. دا ټولې هڅې د دې لپاره شوي، چې یادې پروژې خوندي پاتې شي او ستاسې پیسې په شفاف او منظم ډول په ښاري خدماتو مصرف او استفاده ترې شوې وي نو، مهرباني وکړئ، د خپلو شخصي ګټو په خاطر عامه پروژې مه زیانموئ!

د یادوني وړ ده، چې د څلورمې ناحیې مسؤلینو د زاړو بارګینو مخې ته، په عمومي سړک، د هغو موټرو پر وړاندې اجراات کړي، چې له امله یې د واوري اوبه پر سړک تویېدې.

## د داوطلبۍ خبرتیا

کندهار ښاروالي غواړي چې د ۱۴۰۴ مالي کال د انکشافي بودیجې او تدارکاتي پلان له مخې د کندهار ښار په مختلفو ناحیو کې د سړکونو د داغ ګیرۍ کولو پروژې قرارداد عقد وکړي.

علاقمندان کولای شي خپل غوښتنلیکونه د ۱۴۰۴ کال د وري میاشتې له ۲۴ نېټې څخه بیا د غوایي میاشتې تر ۱۲ نېټې پورې د کندهار ښاروالۍ د تدارکاتو او قراردادونو امریت اړوند د تهیه او تدارکاتو عمومي مدیریت ته وسپاري. د یادې پروژې معیاري شرطپاڼه او ضمایم هم له یاد مدیریت او هم د کندهار ښاروالۍ له رسمي ویب پاڼې څخه د سافټ په بنه ترلاسه کولای شي.

د دې پروژې داوطلبۍ به د ۱۴۰۴ کال د غوایي میاشتي پر ۱۳ نېټه چې د شنبې ورځ ده د سهار په ۹:۳۰ بجې د ټاکل شوي پلاوي په حضور کې د تدارکاتو او قراردادونو په امریت کې ترسره شي.

علاقمند داوطلبان باید خپل آفرونه د تدارکاتو د قانون،کړنلارې او د شرطپاڼې له شرایطو سره سم ترتیب کړي او په سر تړلي ډول د داوطلبۍ د مجلس په ورځ او ټاکل شوي وخت ټاکل شوي پلاوي ته تسلیم کړي.

ناوخته آفرونه د منلو وړ نه دي.

د نورو معلوماتو لپاره د تماس شمیرې:

۰۷۰۴۷۰۷۱۶۰ / ۰۷۰۷۹۷۰۷۶۰

کندهار ولایت

تیم انجنیری ریاست شاروالی چاریکار حدود ۸۰۰ متر جاده فرعی را در ناحیه پنجم بخاطر کانکریت ریزی، سروی توپوگرافی و تخنیکی کرد و قرار است این جاده فرعی به حمایت مالی ریاست شاروالی شهر چاریکار کانکریت ریزی شود تا برای صدها خانواده سهولت ایجاد شود.



## په خوانانو غونډۍ کې کینول شوي نیالګي اوبه شول



خوست ۳۵

د خوست ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ برخې مسؤلینو د یکشنبې په ورځ، د هوا له تودېدو سره، د نیالګیو پالنې ته پاملرنه زیات کړې او د ښار بېلابېلو برخو په ګډون يې خلورمې ناحيې اړوند ازادۍ غونډۍ کې هم د تېرو او روان کال نیالګي د ټانکرونو په واسطه اوبه کړل.

خوست ښـــاروالۍ دا بهیر د ښار شنه ســاتلو او د چاپېریال پاکوالي ته د ژمنتیا په موخه ترسره کوي او ښـــاریانو ته ډاډ ور کــوي، چې دا ډول پاملرنه به دوام ولري تر څو کینول شـــوي نیالګي په ښه ډول وده وکړي او ښاري چاپېریال زرغون کړي.

## د مزارشریــف ښـــار تلپاتي ودې او پرمختـــګ په موخه ګړندۍ هڅې



بلخ ۳۶

د مزارشریــف _ کابل لوی لارې ګلدانیـــو جوړولو او بیارغولو سروې چارې د مزارشریف ښاروال په شتون کې پیل شوې.

د مزارشریف ښـــار چاپېریال پاکوالي او سمسورتیا پراختیا په موخـه د مزارشریف ښـــاروال حافظ عبدالرحمـــن همت په ځانګړې لارښـــوونې د مزارشریف _کابل لوی لارې د فردوسی څلور لارې څخه بیا تر الفتح مسجد څلور لارې پورې د سرک دواړو غاړو ګلدانیو جوړولو او بیارغولو سروې چارې پیل.

د نوموړي ســرک ګلدانیو جوړولـــو او بیارغولو سروې چارو پر مهـال د مزارشریـــف ښـــاروال حافظ عبدالرحمـــن همت د ښاروالۍ انجنیري ټیم ته د ګلدانیو په اساسي او عصري ډول جوړولو او بیارغولو په موخه يې اړینې سپارښتنې وکړې.

همدارنګه ښاغلي همت ښاروالۍ انجنیري ټیم ته ټینګار وکړ، د ګلدانیو جوړولو او بیارغولو سروې، طرح او ډیزاین چارې دې ژر تر ژره بشـــپړې او عملي چارې دې پیـــل شي، تر څو د دې زرغون او پاک ښار درلودونکي و اوسو.

## جلسه حســـابدهی و معلوماتی سالانه ، سال مالی ۱۴۰۳ شاروالی شهر زرنج برگزار گردید




نیمروز ۳۷

جلسه حســـابدهی و معلوماتی سالانه، ســـال مالی ۱۴۰۳ شـــاروالی زرنج ولایت نیمروز روزشـــنبه (۲۴ حمل) به منظور ایجاد شفافیت در اجراآت اداره شاروالی زرنج، و تقویت اعتماد میان مردم و اداره محلی برگزار گردید.

این جلسه در نخست با تلاوت قرآنکریم آغاز گردید و پس از آن مولوی صلاح‌الدین ممتاز، شاروال زرنج، ضمن خوش‌آمدگویی به اشـــتراک‌کنندگان، پیرامون اهمیت این نشســـت و ارزش حسابدهی دولت در نظام اسلامی سخنرانی نمود.

در جلسه یاد شـــده علاوه بر مسؤولان شاروالی زرنج، نماینده مقام ولایت، روســـای ادارات محلـــی، وکلای گذر، متنفذین قومی، نمایندگان اصناف، اساتید پوهنتون و مکاتب، جوانان حضور داشتند.

آمـــر حکومتداری شـــهری، پیرامـــون فعالیت‌هـــای آمریت حکومتداری شهری و آمر مالی و اداری، میزان عواید و مصارف سال ۱۴۰۳ را به اشتراک کنندگان معلومات داد.

جلسه با دعای خیر به پایان رسید.

## مدیریـــت عمومـــی حکومتداری شـــهری شـــاروالی چاریکار با مربی‌های تیم‌های والیبال جلسه هماهنگی تدویر کرد

جلســـه هماهنگی تورنمنت والیبـــال جام گل ارغوان با اشـــتراک مولوی سبحان‌الدین همت مدیر عمومی حکومتداری شهری و مربیان تیم های اشـــتراک کننده در تالار جلسات شاروالی چاریکار تدویر گردید.

قرار اســـت ریاست شاروالی شـــهر چاریکار به مناسبت جشن‌واره گل ارغوان تورنمنت والیبال را در سطح ولایت پروان برگزار کند.

مســـوولان می‌گویند که این تورنمنت به هدف بالا بردن سطح تمرینی ورزشـــکاران و تشویق جوانان به ورزش برگزار می‌شود.

پروان ۳۸

## جلال اباد ښـــار د یونیسـ همکارۍ مؤسسې له پروژوي خدمتونو څارنه ترسره شوه




ننګرهار ۳۹

د جلال اباد ښاروال قاري بلال په لارښوونې د پلان امر انجنیر جاوید جهانمل او د تخنیکي او سکتوري چارو د څار او ارزونې مسـؤول انجنیر ایمل امیني له لوري د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د یونیسـ مؤسسې په تخنیکي همکارۍ په څلورمه، پنځمه، شپږمه او اوومه ناحیه کې د پروژوي خدمتونو له کارونو له نږدې لیدنه ترسره شوه او د کارونو د کیفیت او غوره والي په موخه د شرکت مسؤلینو ته جدي لارښوونې وشوې.

د پلان امر انجنیر جاوید جهانمـــل وویل؛ هڅه کوو له ټولو پروژوي خدمتونو پـــه وخت او زمان سره څارنـــه او مراقبت ترسره کړو.

نیمګړتیاوې له منځه یوسو او با کیفیته کارونه ترسره کړو.

د تخنیکي او ســـکتوري چارو د څار او ارزونې مسؤول انجنیر ایمل امیني وویل؛ په بېلابېلـــو ناحیو کې د یونیسـ همکارۍ مؤسســـې له لوري د روانو پروژو له کارونو لیدنه ترسره شوه او مسؤولینو ته لازمې سپارښتنې وشوې.

د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یونیسـ همکاره مؤسسه ټولې ۳۹ پروژې لري، چې ۱۶ پروژې يې بشـــپړې شوې، ۱۱ يـــې تر کار لاندې دي، ۴ نوې په پروژې په پلان کې دي، ۳ د تدارکاتو په حال کې دي او ۳ نورې يې ډیزاین شوې.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانســـتان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهالـــه کاري فرصتونو او لومړنیو خدمتونو وړاندې کول دي.

د جلال اباد ښـــاروالۍ رهبري هڅه کوي چې له ټولو پروژوي خدمتونو په وخت سره څارنه او مراقبت ترسره کړي ترڅو کارونه يې په معیاري ډول ترسره شي.

اداره شاروالی ولسوالی نهرین ولایت بغلان طبق قوانین و مقررات شهرداری روزانه کار پاکسازی ساحات مورد نیاز از اوجود کثافات انجام میدهند و هم چنان در رشد فرهنگ شهر نشینی جلسات متعدد را با باشندگان این شهر برگزار می نمایند.

بغلان ۴۰

## جلسه ماهوار وکلای گذر قلعه نو ولایت بادغیس برگزار گردید




بادغیس ٤١

نخستین جلسه ماهوار سال مالی ۱۴۰۴ وکلای گذر شهر قلعه نو ولایت بادغیس با حضور داشت ملا راز محمد ذاکر شاروال قلعه نو و مسؤولان بخش‌های مختلف شاروالی برگزار گردید.

این جلسه با آیات قرآنکریم آغاز شد که پس از آن ملا راز محمد ذاکر در سخنان افتتاحیه خویش، در مورد جلوگیری از ساخت و سازهای خودسر، آگاهی دهی برای پرداخت صفایی خانه‌ها و جایدادهای باقی مانده، مراقبت از نهال‌های غرس شده تاکید ورزید.

وکلای گذر نیز در سخنان شان روی چالش‌ها و فرصت‌ها با شاروال قلعه نو صحبت نمودند و وعده سپردند که در هماهنگی با مدیریت‌ها نواحی و مدیریت تنظیف وسرسبزی همکاری جدی نمایند.

## جلال اباد ښار اوومه ناحیه دوسره‌کې چوک کې د ښاري نظم په موخه کمپاین ترسره شو



ننګرهار ٤٢

د جلال اباد ښاروالۍ د مارکیټونو د تنظیم امریت له لوري د ښاري نظم د رامنځته کولو په موخه د اوومې ناحیې په دوسره‌کې چوک کې د ښاري نظم راوستو، پلو لارو خلاصولو او لاسي پلورونکو د تنظیم په موخه کمپاین ترسره کړ.

د کمپاین پرمهال د مارکیټونو د تنظیم امریت کارکوونکو لاسي پلورونکو ته خبرداری ورکړ چې که ښاري نظم په پام کې ونه نیسي، لاسي کراچۍ به یې ضبط شي بیا به د شکایت حق نه لري.

د مارکیټونو د تنظیم امریت هره ورځ د ښار په بېلابېلو ساحو کې د ښاري نظم د راوستو په موخه هڅې کوي.

## حشر تنظیفی و کمپاین پاکی شهر توسط شاروالی بامیان راه اندازی شد




بامیان ٤٣

شاروالی بامیان به منظور حفاظت از محیط زیست و تقویه فرهنگ شهرنشینی، حشر تنظیفی و کمپاین پاک کاری شهر را با حضورداشت محمد خان غازی نماینده مقام ولایت، مولوی روزی محمد افکار شاروال بامیان، اعضای بورد مشورتی، وکلای گذر، علمای کرام، متنفذین، جوانان و کارمندان شاروالی راه اندازی نمود.

کمپاین متذکره در شهرک ملاغلام واقع گذر ۹ ناحیه چهارم شهر بامیان راه اندازی گردید و با حمل بنر حاوی پیام" شهر پاک نشانه فرهنگ عالی شهروندان آن است، بیایید شهر خویش را پاک نگهداریم" از موقعیت دفتر ناحیه چهارم الی سرک عمومی اژدر و ملاغلام زباله های مسیر متذکره را با رعایت موضوعات بهداشتی جمع آوری نمودند.

مولوی روزی محمد افکار از شهروندان بامیان خواست که به منظور رعایت نظافت و پاکی محیط زندگی، در قسمت مدیریت زباله به عنوان شهروند مسئوول سهم گرفته، فرهنگ شهرنشینی را رعایت نمایند؛ زباله ها را بیجا نیاندازند تا باعث آلودگی محیط زندگی و شیوع امراض گوناگون ساری و خطرناک نگردد.

**کار زیرسازی پروژهٔ آسفالت لین شمال سرک، از مسیر تانک مولوی تا پل جبرئیل، مربوط نواحی دوازدهم و سیزدهم شهر هرات، از سوی شاروالی این شهر با سرعت جریان دارد.**

**این پروژه شامل آسفالت و احداث پلچک‌های آن است که به طول ۲٦۰۰ متر و عرض ۱۰.۵ متر، با هزینهء بیش از ۴۲ میلیون افغانی از بودجهء انکشافی شاروالی هرات تطبیق می‌شود.**



هرات ٤٤

## د جلال باد ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ امریت ۴۰۷ تنو کارکوونکو ته نوي واسکټونه وویشل شول

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله تعالی د شفاهي حکم په اساس او د چارو اداري د اداري مجلس له مخې د جلال اباد ښاروال قاري بلال د تنظیف او سرسبزۍ امر حضرت علي آغا له لوري د ښاروالۍ ۴۰۷ تنو تنظیفاتي کارکوونکو ته په نوي رنګ جوړ شوي واسکټونه وویشل شول.

د جلال اباد ښاروال قاري بلال د ښاروالۍ تنظیفاتي کارکوونکو هڅې وستایلې او وې ویل؛ په خپلو ورځنیو کارونو کې صادقه واوسئ، د ښار په پاکوالي کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړئ، تاسو د ښاروالۍ د نېکنامۍ غوره ادرس یاست.

د تنظیف او سرسبزۍ امر حضرت علي اغا د تنظیفاتي کارکوونکو په فعالیتونو او هڅو خبري وکړې او په ښاریانو یې غږ وکړ چې د ښار په پاکوالي کې د ښاروالۍ له تنظیفاتي کارکوونکو سره تل پاتې همکاري وکړئ، خپل کثافات مناسبو ځایونو ته ورسوئ، ترڅو تنظیفاتي کارکوونکي یې په اسانۍ سره مناسبو او عمومي ځایونو ته انتقال کړي.

د جلال اباد ښاروال سره د تنظیف او سرسبزۍ امریت یو شمېر کارکوونکو په مخامخ ډول ځیني ستونزې او غوښتنې شریکې کړې چې د حل په موخه یې ښپړ ډاډ ورکړل شو.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبرۍ په تاسو ټولو درنو ښاریانو غږ کوي چې د تنظیف او سرسبزۍ امریت کارکوونکو سره د ښار په پاکوالي او ښاري نظم په برخه کې بشپړه همکاري وکړئ.

ننګرهار ٤٥

اعضای کمیته نظم شهری شاروالی قلعه نو ولایت بادغیس به هدف ایجاد نظم دست فروشان و بررسی وضعیت پیاده روها از ساحات مختلف شهر قلعه نو بازدید نمودند.

مسؤولان شاروالی قلعه نو ولایت بادغیس از تمام شهروندان، به ویژه، دست‌فروشان و سایر کسبه‌کاران می‌خواهند که در راستای برقراری نظم بهتر شهر و حفظ پاکیزگی آن، با این شاروالی همکاری نمایند.

بادغیس ٤٦

## داسـعداباد ښار په څلورګونو ناحیو کې د سرک پراختیا په موخه عملي چارې پیل شوې




د اسـعداباد ښـاروال مولوي نظرمحمد عتیـق د ګډ ولایتي کمیسون په ملتیا په ښـاري محدوده کې د سرک پراختیا له چارو لیدنــه وکړه،نوموړي له درنو ښـاریانو مننه وکړه چې د حکومت پالسـیو په تطبیق کې همکار دي او پرته د ځنډه د خپلو هټیو،استوګنځایونو،شنو ساحو او تجارتي مارکېټونو هغه برخې په خپلو مټو د لمنځه وړي کومې چې د سرک او پیاده رو د بندبنت لامل شوي وي.

په ورته مهال هغه ساحې چې پاتې وي په نښه او هټۍ والو ته سپارښـــتنه وشوه ترڅو ژر تر ژره په نښه شوې ساحې تخلیه او پاکې کړي.

## د کندهار ښــار په پنځمه ناحیه، احمد شاهي مېنه کې د سرک رغولو چارې ۹۰ سلنه بشپړې شوې




کندهار ښاروالی د خپلو انکشافي کارونو په لړ کې د پنځمې ناحیې اړوند په احمدشــاهي مېنه کــې د یو کیلو متر سرک رغولو چارې په اساسي او معیاري ډول پیل کړي دي.

یــاد جوړېدونکی سرک د یوکیلومتر پـــه اوږدوالي، د چریو په شمول د لس متره په پلنوالي سره په اساسي ډول رغول کېږي.

په دې پروژه کې اوس مهال (۴۰) کســانو ته د کارکولو زمینه برابره شــوې ده چې(۱۰) کسان په مسلکي او ۳۰ کسان په غیري مسلکي ډول په کار کولو بوخت دي.

ددې پروژې ټولې رغنیزې چارې تر دې دمه ۹۰ سلنه پای ته رسېدلې دي او پاتې کارونه به یې هم ډېر ژر بشپړ شي او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

د دغــه سرک په جوړولو سره د ســیمې خلګو زیاته خوښــي وښوده او د کندهار ښاروالی څخه یې ځانګړې مننه وکړه.

## جلال اباد ښاروال قاري بسم الله بلال سره د یونیپس ولایتي مسؤول او د پروژو قراردادیانو ناسته وکړه

د جـلال اباد ښـــاروال قاري بـــلال، د تخنیکي او ســـکتوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص، د پلان امــر انجنیر احمـــد جاوید جهانمـــل او نورو مســـؤولینو سره د یونیپس همکاري مؤسسې ولایتي مســـؤول انجنیـــر تحفت اللـــه تحفـــت، د یونیپس تخنیکـــي همکارانو او د پروژو قراردادیانو د پروژې خدمتونو د کیفیت، کمیـــت او غوره والي په موخه ناسته ترسره کړه.

د جلال اباد ښـــاروال قاري بلال د ښـــه راغلاست ترڅنګ وویل؛ پـــه ټولو برخو کې باید غوره همغږي موجـــوده وي، کارونـــه باید د اصولـــو او انجنیري نورمونـــو مطابق ترسره شي، زموږ ټول تخنیکي ټیم په دوامداره توګه له کارونو څارنه کوي.

د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص وویل؛ یونیپس همکاره مؤسسه چې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ د جلال اباد ښـاروالی تر څنګ لاندې په نهه ګونـــو ناحیو کې په بېلابېلو برخو کې کار کوي د ښاروالی مشرتابه او تخنیکي ټیم ورسره بشـــپړه همکاري کوي او په ټولو هغو برخو کې چې تخنیکي ستونزې وي په ګډه او همغږۍ سره به یې تنظیموو.

د یونیپس ولایتي مسؤول انجنیر تحفت الله تحفت د یونیپس د پالیســـۍ او کاري ساحې په اړه معلومات وړانـــدې کـــړل او د هر ډول غیر اصـــولي کارونو د مخنیوي په برخه کې یې بشپړ ډاډ ورکړ.

د جـــلال اباد ښـــاروالی تر چتر لانـــدې د یونیپس همکاره مؤسســـه شـــاوخوا ۳۹ پروژې لري چې تر نیمایي زیاتې یې بشـــپړې شوي او د یو شمېر نورو یې کارونه جریان لري.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانســـتان په ښاروبو او کلیو کې د لنډ مهالـــه کاري فرصتونو او لومړنیو خدمتونو وړاندې کول دي.

د جلال اباد ښـــاروالی رهبري هڅـــه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسسو په مرســـته د ښـــار ټول عمومي او فرعي ســـړکونه په اساسي ډول ورغوي.



**شاروالی محمودراقی ولایت کاپیسا جهت رسیدگی به شکایات شهروندان امروز چهارشنبه در نواحی سه گانه شهر محمودراقی صندوق‌های شکایات را بازگشـــایی نمود و شکایات بدســـت آمده از آنرا به کمیته مؤظف بررسی شکایات جهت اجراآت بعدی سپرد تا شکایات واصله به طور دقیق بررسی شود.**




## ګردیز ښار، خوست او غزني لین هټیو کې له بې کیفیته او تاریخ تېرو مواد څارنه وشوه




ګردیز ښاروالی صنعت او سوداګرۍ ریاست په مشرۍ د ګردیز ښـــاروالی مارکیټونو تنظیـــم مدیریت او ولایتـــي ادارو ټاکلو مسؤولینو د خپلو څارنو پر دوام دا ځل، ګردیز ښار خوست لین او غزني لین هټیو کې د خوراکي او غیر خوراکي له وخته تېر او بې کیفیته توکو له کیفیت او مصرف نیټې څخه څارنه وکړه.

د دې پلټنـــو په لړ کـــې (۱۱) قلمه بېلابېـــل خوراکي او غیر خوراکي توکي، چې د مصرف موده یې پای ته رســـیدلې وه، راټول شول.

د پلټنـــو په لړ کې راټول شـــوي دغه تاریخ تېـــر مواد د پکتیا صنعت او سوداګرۍ ریاست په ګودام کې مهرلاک کېږي، چې وروسته به د پکتیا محکمې د حکم له مخې د رسنیو پر وړاندې له ښاره لرې سیمه کې له منځه یوړل شي.

بازار غلام علی ولسوالی بگرام ولایت پروان که از جمعیت پرنفوسی برخوردار می‌باشد، هر یک شنبه و چهارشنبه توسط کمیته مؤظف شاروالی ولسوالی بگرام از وجود دست فروشان پاک کاری می‌گردد که امروز نیز توسط کیمته پاک کاری شد و از صنف قصابان نیز نظارت بعمل آمد.

رغونه
اونیزه
د ولایاتـــو او ولســـوالیو ښـــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه
دافغانستان اسلامی امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## شاروال چاریکار از جریان تطبیق پروژه کانکریت ریزی سرک های فرعی شهر چاریکار نظارت نمود




حافظ رازمحمد یاسر، شــاروال شــهر چاریکار ولایت پروان با مدیر انجنیری و مسؤول شرکت قراردادی از جریان تطبیق و پیشرفـــت کار پروژه کانکریت ریـــزی کوچه های فرعی داخل شهر نظارت و بازدید نمودند .

شـــاروال چاریکار در جریان نظارت از ایـــن پروژه بر کیفیت و معیاری بودن پروژه تأکید نموده و به شرکت ساختمانی مذکور هدایـــت داد تا کار پروژه مطابق قـــرارداد و مطابق معیارهای انجنیری به طور دقیق و منظم پیش برود .

این پروژه بـــه هزینه ۲۱ میلیون افغانی از بودیجه شـــاروالی چاریکار به ســـکتور خصوصی سپرده شد که کار آن حدود ۸۰ درصد پیشرفت نموده اســـت و عنقریب به بهره‌برداری سپرده خواهد شد.

## له مرکز کابل څخه دوه تخنیکي ټیمونو کندهار ته ســـفر کړی او دکندهار ښاروال سره یې پر بنسټیزو موضوعاتو مجلس ترسره کړ




د کندهار ښاروالۍ په هڅو اود مشر تابه مقام دخاص هدایت له مخې، له مرکز کابل څخه دوه تخنیکي ټیمونه چې مشري یې د کابل ښـــاروالۍ مرستیال او د انسجام د بودیجې رئیس کندهار ته سفر کړی دی.

یاد پلاوي چې ۳۰ کسیزه غړي دي د کندهار ښاروال مولوي عبدالله روحاني، تخنیکي او سکتوري رئیس مولوي نورالباقي خادم او نورو مســـؤولینو سره د ښاروال صاحب په کاري دفتر کې پر ګنو مهمو او اساسي موضوعاتو مجلس ترسره کړ.

د دې لوړپوړي پلاوي د ســـفر موخه دا وه چې د کندهار ښار لپاره بنسټیز پلانونه جوړ شي، د ښاروالۍ د چارو د لا ښه والي لپاره اســـاسي اقدامات ترسره شي، د کاناليزېسيون يو فعال سیستم رامنځته شي، د ښاري پراختیا لپاره نوي طرحې چمتو شي، ښـــاري پلانونه تنظیم شي، د عوایدو پـــه برخه کې د عایداتي سرچینـــو ارزونه وشي او همدارز د کندهار ښـــار د اداري، تخنیکـــي او انکشـــافي چارو د پیاوړتیـــا په موخه ګډ بنسټیز ګامونه پورته شي.

## د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست د غزني له ښاروال سره وکتل




د کور او ښـــار جوړولـــو وزارت محترم سرپرســـت وزیر الحاج حمدالله "نعـــماني" په خپل کاري دفتر کې د غزني ولایت له محترم ښاروال مولوي محمد نبي "حمزه" سره وکتل.

په دغه کتنه کې د غزني ښار د ښاري وضعیت، شته ستونزو او حل لارو په تړاو خبرې وشوې.

د غزني ښاروال محترم مولوي محمد نبي "حمزه" وویل، په یاد ښـــار کې ځینې ســـتونزې شـــته چې د پلانونو په جوړېدو او تطبیق سره به حل شي په ورته وخت کې، د کور او ښار جوړولو وزارت محترم وزیر حمدالله "نعماني" وویل، لومړی به د غزني ښار په اړه شته پلانونه وګوري.

ښـــاغلي نعماني وویل، هڅـــه به وکړي چې د غزني ښـــار ســـتونزې حل کړي او د ښـــاري تخلفاتـــو مخنیوي په اړه جدي ګامونه پورته شي.

د کور او ښار جوړوو وزارت د منظمې ښاري ودې او پراختیا په موخه بېلا بېل پلانونه طرح او ډیزاین کوي او بیا یې د تطبیق لپاره اړوندو ښـــاروالیو ته سپاري، چې بیرته د خپلو پلانونو له ښه تطبیق څارنه او نظارت هم کوي.

## جلســـه کمیته رســـیدگی به شکایات توســـط شاروالی محمودراقی برگزار شد




به منظور رســـیدگی به مشـــکلات و شـــکایات شهروندان، جلســـه نوبتی کمیته رســـیدگی به شـــکایات تحت ریاست مولوی عبیدالله حسام، شاروال محمودراقی ولایت کاپیسا با حضور اعضای این کمیته برگزار گردید.

در این جلسه شکایات دریافت شده از نواحی سه گانه شهر محمودراقی به طور دقیق بررسی شد و به منظور حل منظم و بـــه موقـــع مشـــکلات تصمیم گرفته شـــد که شـــکایات شهروندان به‌صورت مکتوبی به ادارات مربوطه ارسال گردد تا اقدامات لازم و مؤثر انجام شود.

د هرات ښاروالۍ د څلورمې او شپږمې ناحیو اړوند د امام بخاري لویې لارې د بلوار د رنګولو چارې پیل شوې

د ښـــار د ښکلا او د ښار د نما د ښایست په موخه د نویو جوړ شوو بلوارونو د رنګولو لړۍ د هرات ښاروالۍ اداري له لوری پیل شوې او دغه لړۍ د امام بخاري رح د لوی سرک له پیل د نمبریک پوســـتې د کار آباد تر پله پورې رواني دي.




## نظارت کمیته جلوگیری از حریق و آتش سوزی در شهر قلعه نو




نظارت کمیته جلوگیری از حریق و آتش ســـوزی در شهر قلعه نو ولایت بادغیس که متشکل از نمایندگان مقام ولایت، قوماندانی امنیه، شـــاروالی و ریاست های مســـتوفیت، صنعت و تجارت، حوادث، و شـــهر سازی است از پمپ استیشن ها و شرکت های گاز نظارت به عمل آوردند.

در این بازدید پیرامون چگونگی نصب بالون ها ضد حریق، نصب شـــماره تماس اطفائیه، نصب تابلوی های راهنما، علامت منع سیگار، باز نگهداشتند مسیر خروجی ورودی، محل استفاده از تهویه ساحات پمپ استیشـــن ها از چربی مواد نفتی، توصیه و راهنمائی های اساسی صورت گرفت.

کار پروژه موزائیک کاری یا ( انترلاک) پیاده رو از مسیر جـــوی انجیل تا چـــوک فرقه مربوط ناحیـــهء یازدهـــم شـــاروالی هـــرات، به طول مجموعی ۸۰۴ متر جریان دارد.

این پروژه از ســـوی دفتـــر یونپس (SPONU) تمویل میگردد و برای ۸۰ نفر از باشندگان این ناحیه زمینهء کار روزانه فراهم گردیده است.

هرات ۵۹

## گردیز ښار با احساسه اتحادیې د زرغونتیا په نیت څلور سوه د زینتي بوټو مرسته وکړه



پکتیا ۶۰

گردیز ښار اصنافو له منځه، گردیز ښـاروالی لخوا تازه ټاکل شـوې ښـاري اتحادیې، چې د ښار ښکلا، ښـاري سرغړونو مخنیوې، عوایدو راټولولو، ښار صفایي او زرغونتیا په برخه کې د گردیز ښاروالی سره په ښې همغږی ټولې چارې تنظیموي، د دې اتحادیې لخوا گردیز ښـاروالی سره د ښـار ښـکلا او زرغونتیا په نیت(٤٠٠) څلور ســوه مُرسل گلانو مرسته وکړه، چې د تنظیف او سرسبزي مدیریت لخوا به د ښار لویو سړکونو په گلدانونو کې کینول شي.

گردیز ښاروال حبیب الله اخندزاده حامد د ښاري اتحادیې دغه نیک احساس او وطني مینې مننه وکړه او وې ویل، چې د زرغون او هوســا راتلونکي لپاره د ښاریانو او خصوصي سکټور رول مهم او گټور دی.

گردیز ښــاروال وایې؛ د ښار سرسبزه کولو، زرغونتیا او لا ښکلا لپاره یې هڅه دا ده څو د ټولو مرســتدویه بنسټونو او ښاریانو توجه را جلب کړي، څو هر ښــاري د ښــار سرســبزه کولو او نیالگیو ساتنه کې ځان مسؤل وبولي.

## جلسه گزارش دهی شاروالی محمدآغه ولایت لوگر برگزار گردید

جلسه گزارش دهی شاروالی محمدآغه ولایت لوگر با حضور داشــت مســؤولین، علمای کرام، متنفذین، اعضای بورد مشــورتی و مامورین ادارات مختلف در تالار مدیریت خدمات زراعتی دایر گردید.

در این جلســه نصیراحمد جبیر شــاروال ولسوالی محمدآغه پــلان های که برای تطبیق آن موانع وجود دارد خواهان همکاری گردید.

همچنان مولوی محمد ولی حماس، معاون ولسوالی از فعالیت های شاروالی محمدآغه اظهار قدردانی نمود.

مسؤولین حکومت داری شهری فعالیت ها، پروژه ها و دست آوردهای ســال های ۱۰۴۱ الی ۳۰۴۱ را به شــکل مفصل تشریح نمودنــد و همچنان در بخش بودجه و عواید این اداره معلومات مفصل به حاضرین مجلس ارائه گردید.

حاجی محمد زلمی و انجنیر میرحمزه به نمایندگی از ولسوالی محمدآغه از فعالیت های شاروالی محمدآغه اظهار خرسندی نمود، پیشنهادات خویش را با رهبری شاروالی در میان گذاشته و اطمینان همکاری را داد.

مولوی ابو یوسف آمر امر بالمعروف و نهی عن المنکر ولسوالی محمدآغه از فعالیت های شاروالی محمدآغه تقدیر و تحسین نمود و گفت که اخلاص و صداقت در مســؤولیت های سپرده شــده، وظیفه هر مجاهد و مسؤولین می باشد.

لوگر ۶۱

## د جلال اباد ښاروال قاري بسم الله بلال د دریمې ناحیې له ورځنیو چارو لیدنه وکړه



جلال اباد ۶۲

د جلال اباد ښاروال قاري بلال او ورسره مل پلاوي د دریمې ناحیې له ورځنیو چارو د کارونو د بهبود، ښه والي او پرمختگ په موخه لیدنه ترسره کړه.

د ناحیې امــر حاجي احمد عبیده او د عوایدو مدیر شــجاع الدین بختــاني د ناحیې اړوند د عوایدو، تنظیفاتي خدمتونو، ملکیتونو او نورو اړینو برخو کې معلومات وړاندې کړل او د تېر په څېــر یې په ټولو برخو کې د خپلــو کارکوونکو پر ژمنتیا او کاري تعهد تأکید وکړ.

د جلال اباد ښــاروال ښاغلي قاري بلال د دریمې ناحیې له ورځنیو کارونو خوښــي وښــوده او د حاضرۍ پــه پابندۍ، مراجعینو سره په غوره او نیک چلنــد، د عوایدو په راټولولو او ښاري خدمتونو خبرې او لازمې سپارښتنې وکړې.

د جلال اباد ښــاروالی رهبري د کارونو د چټکتیا، پرمختگ او بهبــود په موخه په دوامداره توگه د خپلــو اړوندو ناحیو څخه لیدنه ترسره کوي.

## شاروال مزارشریف: چهارراهی ها باید به صورت عصری و معیاری ساخته شود




مزار شریف ۶۳

حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف از جریان کار ساخت و بازسازی چهارراهی ها و گلدان های اطراف آن در سطح شهر مزارشریف نظارت نمود و گفت که چهارراهی ها نماد زیبایی شهر است باید به صورت عصری و معیاری ساخته شود.

شــاروال مزارشریف از کار ساخت و بازســازی، چهارراهی های بیهقی در ناحیــه چهارم شــهر، چهارراهی مقابل شــاروالی مزارشریــف، چهارراهــی شرقی روضــه مبــارک و چهارراهی سانچارکی در ناحیه سوم شهر نظارت نمود و بر ساخت چهارراهی ها به صورت اساسی، عصری و معیاری تأکید نمود.

همچنان آقای همت برای مسئوولین شرکت ها به منظور ساخت و بازســازی چهارراهی ها و گلدان های اطراف آن در اسرع وقت و مطابق طرح و دیزاین انجنیران شاروالی هدایت های لازم سپرد.

مسئوولین از ســاخت و بازســازی چهارراهی ها و گلدان های اطراف آن مطابق طرح و دیزاین انجنیران شاروالی برای شاروال اطمینان سپردند.

به هدف سرســبزی و طراوت بیشتر شــهر یکه‌ولنگ، شاروالی یکه‌ولنگ ولایت بامیان نهال‌های غیر مثمر را به وکلای گذر و شــهروندان توزیع نمود و شــاروالی از همه باشندگان این شــهر تقاضا می‌کند تا در حفاظت، آبیاری و نگهداری این نهال‌ها سهم بگیرند و در ساختن شهر سرسبز و زیبا با شاروالی بامیان همراه شوند.




بامیان ۶۴

طبق هدایت مولوی فضل المنان عمری شاروال شبرغان، کار بازسازی و رنگ آمیزی گلدان های وسط سرک جاده مســجد جامع انقره علی شــیر نوایی توسط شاروالی شــبرغان ولایت جوزجان آغــاز گردید و شــاروالی از شهروندان شبرغان می‌خواهد تا در حفظ ساحات سبز، شاروالی شبرغان را همکاری نمایند.



جوزجان ۶۵

مولوی نعمت الله رحیمی شــاروال ولســوالی انجیل ولایت هرات امروز سه شنبه (٦٢ حمل) با نمایندگان و اعضای بورد مشورتی نواحی سه گانه این ولسوالی در مورد برنامه های آینده این شاروالی دیدار و گفتگو نمود.

در این دیــدار حاضریــن پیرامــون وظایف و مسؤولیت های محوله خویش معلومات دادند و پس از آن پیرامــون همــکاری در زمینه خدمات شهری، تنظیفی، سرسبزی .جمع آوری باقیات ســالهای گذشته و ارائه مشوره جهت انکشاف و توسعه شهری بحث و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

هرات ۶۶

## د پل علم ښاروالۍ د تېر ۱۴۰۳ مالي کال د ترسره شویو فعالیتونو معلوماتي غونډه ترسره کړه




لوګر ۶۷

د پل علم ښاروالۍ ریاســـت د تېر ۱۴۰۳ کال د کړنو، لاسته راوړنو او راتلونکي پلانونو معلوماتي غونډه د يادې ښاروالۍ د غونډو په تالار کې ترسره کړه، چې په کې د پل علم ښــــاروال مولوي محمد شاکر ثاقب سربېره، د يو شمېر ادارو مسؤولينو، دينـــي عالمانو، د ګذر وکیلانو، مشــورتي بـــورډ غړو، قومي مشرانو، ځوانانو او د رسنيو استازو ګډون کړی وو.

د پل علم ښاروالۍ د تخنیکي او مسلکي چارو عمومي مدير، انجنير عبدالقادر ستانکزي وويل؛ ډېر د خوشحالۍ ځای ده، چې نن د خپل تېر يوه کال د کار او کړنو حساب وړاندې کوو، نوموړي زياته کړه؛ موږ هر کله چمتو يو چې تاسو درنو ښاريانو ته د خپلو کړنو او فعاليتونو په اړوند معلومات درکړو.

ښاغلي ســتانکزي په تېر ۱۴۰۳ مالي کال کې د ترسره شويو کړنو راټولو شويو عوايدو، مصارفو او په روان ۱۴۰۴ مالي کال کې د پلان شويو پروژو په تړاو معلومات وړاندې کړل.

نوموړي وويل؛ پل علم ښــاروالۍ په ۱۴۰۳ مالي کال کې د ثابتو او غير ثابتــو عوایدو له درکه (۶۳) میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي، چې ډېرې برخه يې بېرته ښـــار کې په پلان شويو خدماتي پروژو مصرف کړي دي.

همدارز ښاغلي ســتانکزي په روان ۱۴۰۴ مالي کال کې په ښار کې د پل علم ښاروالۍ له لوري د پلان شويو پروژو په تړاو معلومات وړاندې کړل او ويې ويل؛ چې پل علم ښـــاروالۍ د ښــــاريانو اړتيا ته په کتو د پل علم ښار په ښلابلو برخو کې يو شمېر رغنيزې پروژې پلان کړي چې د روان کال په لړ کې به تطبيق شي.

ياده غونډه د ګډونوالو ســــوالونو ته د ځواب ويلو وروسته، د پل علم ښاروالۍ د دعوت او ارشــاد مدير مولوي حبيب الرحمن جلالي له لوري د خير په دعا سره پای ته ورسېده.

## خوست ښـــار اوومې ناحيې اداري تعمير چارې وځارل شوې

د خوست ښـــاروالۍ اړونـــد اوومې ناحيـــې د نوي جوړېدونکـــي اداري تعميـــر د جوړېـــدو چارې، چې بشـــپړېدو ته نږدې شوي، د انجينرۍ برخې مسؤولينو لخوا د نظارت په دوام، په ســـاحه کې مسؤولينو ته د ځينـــو نيمګړتيـــاوو په نښــه کولو او د چارو د ښــه کيفيت اړوند لازمې سپارښـــتنې وشوې.

د يادونـــې ده، چې د اوومې ناحيې پـــه ايجاد سره، چې د کونډېـــو قلموال مېنه کـــې ده، تېر کال يې د اداري تعمير د جوړېدو پروژه پيل شـــوې، چې ډېر ژر به يې چارې بشـــپړې شي او کارمندان به په يو مجهز تعميـــر کـــې، د اداري چـــارو تـــر څنګ، د ښـــاري خدمتونو په موخه خپـــل فعاليتونه ترسره کوي.

خوست ۶۸

## غزني ښــــاروالۍ رياســـت د تنظيـــف کارکوونکي په ۲ شيفټونو باندې ويشل شوي دي




غزني ۶۹

د غزني ښاروالۍ رياست نارنجي لباس اغوستونکي په ښلابلو کاري وختونو کې په منظمه توګه ګمارل شوي دي،څو د ښار په کڅه ســـرکونه جارو کړي او په شپه او ورځ کې لسګونه متره سرک د خځلو،خاورو او چټليو څخه پاکوي.

اوس مهـــال د تنظيف او سرســـبزي کارکوونکي د ښـــاروالۍ رياســـت د رهبرۍ له هدايت سره سم په ۲ جلا وختونو کې د ښار د پاکوالي په موخه چوپړتياوې وړاندې کوي چې يو شيفټ يې د ســـهار څخه تر مازديګره او بل شيفټ يې د ٤ بجو څخه وروسته د شپې تر ناوخته پورې د ښار د بندو لښتيو، سرکونو د جارو کولو او ګيو نورو خدماتو بوخت دي.

د تنظيـــف او زرغونتيا مديريت يو کار کوونکي چې د شـــپې ناوخته په لومړۍ ناحيه کې د لښتيو په پاکولو بوخت دي و پر سر يې د روښـــانتيا لپاره يو چراغ لګولی تـــر څو کثافات ورته معلوم شي وايـــي: د ورځې په جريان کې په بازار کې د خلکو ګڼه ګوڼه زياته وي نشي کولی چې، د ښـــار سرکونه او لښتۍ پاک کړو نو ځکه د شـــپې له لوري کار کوو تر څو هېوادولو ته ستونزې جوړې نشي.

شپه د استراحت او ارام لپاره ده خو ستاسو د ښاروالۍ رياست د تنظيف کارکوونکي د ښـــار د صفايۍ او پاکۍ په برخه کې شپه او ورځ کار کوي، راځئ چې د دغو زړورو کارکوونکو سره د ښار په پاکوالي کې همکاري وکړو.

## خوست ښار د نويو جوړو شويو پليو لارو د صفايۍ چارې ترسره شوې



خوست ۷۰

د خوست ښاروالۍ د تنظيف مســـؤولينو له لوري په ښار کې د ښاروالۍ له خوا د پليو لارو د پروژې چارې، چې حکومتي اداري پکې شاملې دي، د شاهي درېار څخه تر ببرک‌خان پارک پورې د تازه جوړو شويو پليو لارو د پاک‌کارۍ چارې ترسره شوې.

د يادونې ده چې د ښاروالۍ له پراختيايي بوديجې څخه تېر کال د زرګونو مترو په اوږدوالي د ښـــار د حکومتي ادارو د پليو لارو د جوړېدو پروژه پيل شـــوې وه، چې د ښاري ښکلا ترڅنګ يې د ښاريانو د پليو لارو ستونزې هوارې کړي دي او هڅه کېږي، چې ښاروالۍ د ښار ټولې پلې لارې د ښاريانو په همکارۍ په يو ډيزاين سره جوړې کړي.

## مزارشريف ښـــار شـــپږمې ناحيې دربيم ګذر کې د يوې کوڅې کانکريټ اچولو چارې په چټکۍ سره رواني دي



مزار شريف ۷۱

د مزارشريف ښـــار پراختيا او پرمختګ پـــه موخه د مزارشريف ښاروالۍ له خوا او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مالي مرسته د مزارشريف ښار شپږمې ناحيې دربيم ګذر کې د يوې کوڅې کانکريټ اچولو چارې په چټکۍ سره رواني دي.

نومـــوړې کوڅه ۵۵۰ متره اوږدوالی لـــري چې پاتې رغنيزې چارې به يې ۲۵ ورځو کې بشـــپړې او ګټې اخيســـتنې ته به وسپارل شي.

همدارنګه دغه پروژه کې هره ورځ ۱۳۰ تنو ته په مسلکي او غير مسلکي ډول د کار زمينه برابره شوې.

د يـــادې کوڅې رغولو چارو په بشـــپړېدو سره به ښـــاريانو او لېږدونکو وسایطو ته د تګ راتګ ګڼې اسانتياوې برابرې شي.

کار اعـــمار مجتمع تجارتی و رهایشـــی واقـــع در ګذر "پريدګاه" شـــهر میمنه با تکمیل سیخبندی سقف منزل چهارم آن به میزان ۶۵ درصد پیشرفت کرده است و این پروژه با سرعـــت در حال اجرا اســـت و مطابق به زمان تعيين‌شـــده در قرارداد تکمیل و به بهره‌برداری سپرده خواهد شد.



فارياب ۷۲

شـــاروالی ولســـوالی نهرين ولايت بغلان برای ۵۰۱دکان بزازی، سیمســـاری و کفش فروشی جواز صنفی سال مالی ۱۴۰۴را توزیع نموده و عواید بدست آمده از آن به بانک انتقال گردیده است. همچنان بخش تنظیم مارکیت های این شـــاروالی، مندوی پیاز، کچالو، خربوزه، گندم و مال بـــازار را در جای مناســـب در مارکیت تازه اعمار شده انتقال داده است

بغلان ۷۳

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی رياست
د مطبوعاتو رياست

# رغونه
اونيزه

د ولاياتو او ولسواليو ښاروالیو د فعاليتونو او لاسته راوړنو خبري اونيزه

## شاروال شهر مزارشریف ساحات ناحیه سوم شهر را سروی کرد




به اساس هدایت حافظ عبدالرحمن همت، شاروال شهر مزارشریف ساحات ناحیه سوم شهر جهت گذاشتن غرفه و اخذ کرایه مؤقت سروی گردید.

به هدف بلند بردن سطح عواید و عرضه خدمات بهتر برای شهروندان، تیم سروی کننده به سرپرستی مولوی محمد نسیم عابد معاون شاروالی مزارشریف با حضورداشت مسؤولین سروی گردید.

به اساس گفته های مسؤولین این سروی به منظور ایجاد زمینه کاری برای شهروندان، بلند بردن سطح عواید شاروالی و نظم شهری راه اندازی گردید و تمام ساحات ناحیه سوم شهر مزارشریف تحت پوشش قرار داده می‌شود.

## جلسه ربع چهارم سال ۱۴۰۳ شبکه شاروالی‌های ولایت فاریاب برگزار گردید




جلسه ربع چهارم سال مالی ۱۴۰۳ شبکهٔ شاروالی‌های ولایت فاریاب تحت ریاست مفتی گل احمد مبشر، شاروال شهر میمنه و با حضور شاروالان شاروالی های ولسوالی های ولایت فاریاب در دفتر کار شاروال ولسوالی قیصار برگزار گردید.

مفتی گل احمد مبشر، شاروال شهر میمنه تطبیق و افزایش پروژه‌های انکشافی، زیربنایی و عام‌المنفعه، افزایش عواید شاروالی‌ها و توجه ویژه به تأمین تنظیف و سرسبزی و عرضه خدمات بهتر را جهت جلب اعتماد شهروندان از سوی شاروالی ها مهم دانست.

شاروالان ولسوالی‌ها گزارش تجربیات، دستاوردها و موفقیت های خود را در زمینه‌های جمع‌آوری عواید، برنامه های انکشافی و خدماتی بیان نمودند.

گفتنی است که شبکهٔ شاروالی های ولایت فاریاب طبق هدایت ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان به منظور ایجاد و تقویت روابط بین شاروالی ها، بهبود وضعیت زندگی شهریان در ولسوالی ها، تسریع روند ارتقای ظرفیت شاروالی ها در ولسوالی ها و تکمیل و تقویت برنامه ها برگزار گردید.

در پایان اشتراک کنندگان نظریات و پیشنهادات خویش را شریک ساخته و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## په کندهار ښاروالۍ کې د ښوونځيو او مدرسو تمثيلي کمېټو ته دعامه پوهاوي غونډه ترسره شوه




د کندهار ښاروالۍ دغونډو په تالار کې د ټولنيزو او کلتوري چارو امريت له لوري د ښار د لويو ښوونځيو او مدرسو تمثيلي کمېټو ته دعامه پوهاوي غونډه ترسره شوه.

ياده غونډه د قران کريم د څو مبارکو ايتونو په تلاوت پيل شوه. وروسته د کندهار ښاروالۍ د ټولنيزو او کلتوري چارو امر ټولو ګډون والو ته ښه راغلاست ووايه او د غونډې د موخې او اجنډا په اړه يې مفصل معلومات وړاندې کړل.

د غونډې په جريان کې ګډونوالو ته د ښاري اوسېدنې کلتور د پياوړتيا او دودولو په موخه يو معلوماتي سمينار وړاندې شو. په دې سمينار کې د عامه پوهاوي په هدف د ښاري فرهنګ اصول، د ښاري ژوند اسانتياوې او اړوندې مهمې موضوعګانې تشريح شوې.

د سمينار له وړاندې کولو وروسته د تمثيلي کمېټو غړو د موضوعاتو په تړاو ازاد بحث وکړ او همدارنګه خپلو ترتيب شوو پوښتنو ته د مسؤولينو له لوري ځوابونه ورکړل.

د غونډې په پای کې د ټولنيزو او کلتوري چارو امر د غونډې وروستۍ ارزونه او پايله وړاندې کړه او ترڅنګ يې د ښوونځيو او مدرسو د تمثيلي کمېټو له غړو وغوښتل چې د خپلو ښوونيزو ادارو له لارې د فرهنګي او ټولنيز پوهاوي د پراخولو لپاره لا ډېرې هڅې وکړي.

ياده غونډه د اختتاميه دعا په ويلو سره پای ته ورسېده.

**د مهترلام ښاروالۍ له داخلي بوديجې د لس ميليونه افغانيو په لګښت د دارالمعلمين په مسير د سړک د جوړېدو چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې**

**ياده دې وي چې د ۱۲ ميليونه افغانيو په ارزښت د ياد سړک د چړايي د جوړېدو چارې روانې دي چې په بشپړېدو سره به يې په ياده ساحه کې د ترافيکي پېښو مخنيوی وشي او د تګ راتګ سهولتونه به برابر شي.**




## خوست ښاروالۍ له دې وروسته به د چارو کشانو خدمات د شپې لخوا ترسره کېږي




د خوست ښاروالۍ د تنظيف ع مديريت له لوري پرېکړه شوې چې د ښار پاکوالي چارې به د شپې لخوا ترسره کېږي، تر څو ښاريان، په ځانګړې ډول دوکانداران، له دوړو او ګردونو څخه خوندي پاتې شي.

د دې نوي تګلارې له مخې، د ښار لويې لارې، فرعي سړکونه او پياده‌روونه د چارو کشانو تر منځ په منظم ډول ويشل شوي او له دې وروسته به د ښاروالۍ د تنظيف برخه کې چاروکش خپل خدمات د شپې پر مهال ترسره کوي.

ياده پرېکړه د ښار د لا ښې پاکوالۍ، چاپېريالي روغتيا او د خلکو د هوساينې په موخه شوې ده او ښاروالۍ په ياده برخه کې د ښاريانو همکارۍ اړينه بولي.

## د مهترلام ښار د زرغونتيا په موخه ٤ زره ميوه لرونکي او غيرې ميوه لرونکي نيالګي کېنول شوي




د مهترلام ښاروالۍ د تنظيف او سرسبزۍ مديريت په ۱۴۰۳ مالي کال کې په مهترلام ښار ټولو نواحيو کې ٤ زره ميوه لرونکي او غيرې ميوه لرونکي نيالګي کېنولي چې د ټولو نيالګيو په منظم شکل هره ورځ د پلان له مخې نظارت ترسره کېږي.

د يادونې وړ ده چې تيرکال ۱۱ زره نيالګي په مهترلام ښار بېلابېلو ناحيو کې کېنول شوي چې د ټولو په منظم شکل ساتنه او پالنه شوې ده.

**د مهترلام ښاروالۍ له لوري د يو ميليون افغانيو په لګښت ۲۰ غټې فلزي کثافت دانۍ جوړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې**

**يادې کثافت دانۍ د ښاري نظم د پاک چاپېريال ساتنې په موخه د مهترلام ښار په پنځه واړه ناحيو کې لګول شوې چې اوس مهال ترې ښاريان ګټه پورته کوي.**



د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه اونیزه

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## جلال اباد ښار اوومه ناحیه کې د سړک او ویالو جوړولو کارونه جریان لري



جلال اباد ۸۱

د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS مؤسسې په تخنیکي همکارۍ د اوومې ناحیې په ۱ گذر کې د ٦٧٥ مترو په اوږدوالي، د ٥ مترو په پلنوالي د سړک او ویالو جوړولو کارونه جریان لري.

د جلال اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص، د ناحیې امر قاري محمد اسمعیل سعادت او د ناحیې انجنیرانو د پروژې له کارونو له نږدې لیدنه وکړه او د شرکت مسؤلینو ته یې د چارو د ښه والي په موخه لازمي سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د سیمې ۷۰ تنه کارگر کار کوي، ۷،۲ میلیونه افغانۍ لگښت پرې راځي چې د نړیوال بانک له لورې ورکول کېږي.

یاده پروژه به په راتلونکي درېیو میاشتو کې بشپړه او گټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

د سیمې اوسیدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي ښودلې او په راتلونکي کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او بیړنیو لومړني خدمتونو وړاندې کول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

**د مرکزي بغلان ښاروالۍ له لورې د پلچکونو د پاکولو او خلاصولو کارونه پیل شوي دي یاد فعالیت شپه او ورځ جریان لري ترڅو د اوبو لاره خلاصه شي او ښار له خټو او کثافاتو پاک پاتې شي**

**په هغو ځایونو کې چې پلچکونه بند شوي وو، اوس خځلې، خټې او نور شیان ترې ایستل کېږي. د اوبو جریان بېرته عادي کېږي، او دا به د سیلابونو مخنیوی هم وکړي.**

**له ټولو ښاریانو څخه هیله کېږي چې مرسته وکړي، او خپل کثافات په پلچکونو کې نه اچوي.**



لغمان ۸۲

## د مهترلام ښاروالۍ له لورې د پلو لارو د خلاصون کمیسیون ترسره شو



لغمان ۸۳

د مهترلام ښاروالۍ د لومړۍ ناحیې مدیر ملا عباس ابراهیمي په مشرۍ چې د ښاروالۍ ټولو امرینو یې ملتیا کوله د گڼې گوڼې د مخنیوي په موخه یې د مهترلام ښار د پلو لارو د خلاصون کمیسیون ترسره کړ.

د یاد کمېسیون له لورې په غیرې قانوني توگه چې کومو دوکاندارانو او هټیوالو په ترپالونو، چترۍ، گانو او نور شیانو باندې پلې لارې بندې کړې وې د ښاریانو پرمخ خلاصې کړې.

د لومړۍ ناحیې مدیر ملا عباس ابراهیمي ټولو دوکاندارانو او هټیوالو ته خبرداری ورکړ چې د پلو لارو خلاصون ته په جدي توگه پام وکړي تر څو یادې لارې د ښاریانو او اطفائې پر مخ خلاصې اوسي، که هر چا لاره بنده کړه قانوني چلند ورسره کېږي چې بیا حق د شکایت نه لري.

د مهترلام ښار یو تن اوسیدونکي زاهد الله وویل: "دا یو ډېر مهم اقدام دی، ځکه زموږ ډېری لارې بندې وې او تګ راتګ سخت شوی و، موږ له مهترلام ښاروالۍ څخه مننه کوو چې ښاري نظم ته پام کوي."

د یادونې وړ ده چې دغه کمېسیون به د راتلونکو ورځو په اوږدو کې هم خپل فعالیتونو ته دوام ورکوي تر څو د ښاریانو لپاره د تګ راتګ لا ډېر سهولتونه برابر شي.

**فراه ښار څلورمه ناحیه کې د سرسبزۍ په برخه کې منظم پلان روان دی**

**د فراه ښاروالۍ اړوند څلورمې ناحیې، مهتاب تالار، مخته سړک په بلوار کې د سرسبزۍ مدیریت له لورې نیالگیو کینولو چارې روانې دي.**

**روان ۱٤٠٤ کال کې د ښار په بېلابېلو برخو کې سلگونه نوي نیالگي کېنول شوي، چې د اوبه کولو ترڅنگ یې ساتنې او پالنې ته ځانگړې پام شوی دی.**



فراه ۸٤

## د محمودراقي ښاروالۍ له لورې د دویمې ناحیې په ساحه کې د نیالگیو کېنولو لړۍ دوام لري



کاپیسا ۸۵

د شنه، ښکلي او له ککړتیا پاک ښار د جوړېدو په موخه، د محمودراقي ښاروالۍ پراخ د نیالگیو کېنولو بهیر پیل کړی دی.

د دې ارزښتناک اقدام په دوام، نن د دویمې ناحیې اړوند د ریگروان سړک په دواړو غاړو کې غیر مثمر نیالگي کینول شول.

د ښاروالۍ مسؤولینو د دې نیالگیو د ارزښت په اړه ټینگار وکړ، ویې ویل چې دا نیالگي به د چاپېریال په شنه کولو، د هوا په تصفیې او د زیان رسونکو گازونو په کمښت کې مهم رول ولري.

مسؤولینو له اوسېدونکو وغوښتل چې د دغو نیالگیو په ساتنه او اوبو کولو کې فعاله ونډه واخلي او د طبیعت د ښکلا د ساتنې او د چاپېریال د ښه والي لپاره مؤثر رول ولوبوي.

**احداث پارک ملی «برادر» توسط ریاست شاروالی انجیل**

**ریاست شاروالی انجیل ولایت هرات، پارک را با نام پارک ملی "برادر" جهت ایجاد فضای سالم برای مردم هرات احداث نموده است.**

**این پروژه با هزینه حدود (۱۰۰،۰۰۰) یک میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی انجیل ولایت هرات احداث گردیده است.**



هرات ۸٦

## د گرشک ښاروالۍ له لورې د ښار د چریو او پلچکونو څخه نظارت ترسره شو



هلمند ۸۷

د گرشک ښاروال صاحب په هدایت د تنظیف مدیریت له لورې د ښار د یو شمیر چریو او پلچکونو څخه لیدنه وشوه.

هغه دوکانداران چې د چریو سر یې په خود سرانه توگه پوښلي وو او یا د چرې او پلچک د بندیدو سبب شوي و، خبرداری ورکول شو چې یادو ستونزو ته جدي پاملرنه وکړي او د چریو د اوبو مخه خلاصه کړي د سر غړونې په صورت کې به قانوني چلند ورسره کېږي.

# رغونه اونيزه

## د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی رياست
د مطبوعاتو رياست


### د ښاروالیو چارو سمون عمومي رئیس د ګردیز ښاروالۍ ستونزې واورېدې




پکتیا ۸۸

د ښاروالیو چارو د سمون او انسجام عمومي رئيس مولوي محمد اسحاق اخندزاده، د ګرديز ښاروال او يو شمېر اداري کارمندانو سره د ښاروالۍ د فعالیتونو د ښه والي او ستونزو د اوريدلو په موخه، ګرديز ښاروال حبيب الله اخندزاده حامد سره وکتل.

ګرديز ښاروال ښاغلي محمد اسحاق اخندزاده له ورتګ څخه مننه وکړه او زياته يې کړه، چې د دې هېواد د اولادونو په قربانيو سره اسلامي نظام قايم شوی دی، اړتيا ده چې خپل هېواد خپله اباد کړو.

ګرديز ښاروال د مؤسسو روانو پروژو، سږکال ښاروالۍ پلان شويو پروژو، عايداتي سرچينو، لګښتونو، پراختيايي پروګرامونو او تېر کې پلي شويو پروژو په اړه هر اړخيز معلومات او ستونزې له اسحاق اخندزاده سره شريکې کړې.

ښاروالیو چارو سمون عمومي رئيس ګرديز ښاروالۍ د فعاليتونو د ستاينې ترڅنګ، خلکو او ادارو سره د ښاروالۍ د همکارۍ روحيې پر پياوړتيا ټينګار وکړ او د عايداتي سرچينو پر پياوړتيا او پراختيايي پروګرامونو په تړاو يې د ښاروالۍ ستونزې او وړانديزونه د منلو او اهميت وړ وبلل او ډاډ يې ورکړ، چې مرکزي اداره ستاسو ستونزو حل ته ژمنه ده.

د ناستې په وروستيو کې اخندزاده صاحب د کرنيزو توليداتو په ارزښت خبرې وکړې او ويې ويل، چې ښاروالۍ بايد د ميوه لرونکو، بې ميوې ونو او زينتي بوټو قورېې ولري څو د دې ښار خاورې او اقليم سره سم وده او وروزل شي.

د اخندزاده په وينا، د قوريو جوړول د ښاروالۍ اړتيا پوره کولو تر څنګ د ښاروالۍ اقتصادي وده کې مهم رول لري او تر څنګ به يې د نورو ولايتونو کرنيزو فارمونو حاصلاتو د کښت منفي پايلې مخه ونيول شي.

### د کوڅه ډبه سپیانو د له منځه وړولو کمپاین ترسره شو

د کندهار ښاروالۍ او امنيه قمندانۍ له خوا د همدې اونۍ په جريان کې د ښار د پنځمې او شپږمې ناحيې اړوند په بېلابېلو سيمو کې د کوڅه ډبه او ليوني سپو د له‌منځه وړلو په موخه کمپاين ترسره شو.

د ياد شوي کمپاين په ترڅ کې د ښاروالۍ مربوطه ټيمونو د امنيه قوماندانۍ په همکارۍ تر سلو زيات سپيان له منځه وړي دي.

کندهار ښاروالي هڅه کوي چي د ښار په نورو ساحو کي هم دې ته ورته کمپاينونه ترسره کړي ترڅو عام ښاريان د کوڅه ډبه سپيانو له ضرر، ميکروبونو او نورو تاوانونه څخه خوندي سي.

کندهار ۸۹

### د غزني ښاروالۍ له لوري په بازارونو کې پراخ نظارتي کمپاین ترسره شو



غزني ۹۰

د غزني ښاروالۍ د ښاري نظم او د خلکو د روغتيا د خونديتوب په موخه، نن ورځ د نوآباد بازار او د ښار دربيم پلان په مربوطاتو کې پراخ نظارتي فعاليتونه ترسره کړل. يادو څارنو کې د قصابيو، خوراکي توکو، درملتونونو، بې‌جوازه فعاليتونو او بی کيفيته توکو جدي ارزونه وشوه.

په دې کمپاين کې چې د ښاروالۍ شپږو ناحيو څخه جوړو شويو شپږو بېلابېلو کمېټو لخوا ترسره شو. چې له هري ناحيه څخه يې څلور-څلور تنه استازي درلودل.

چې دا کمېټې د بازارونو له بېلابېلو برخو څخه ليدنه وکړه.

د قانون څخه د سرغړونې موارد يې وڅارل.

د يادې څارنې پر مهال يو شمېر هټۍ چې د قانوني اسنادو له نشتون، د غير صحي شرايطو او بی کيفيته توکو د پلور له امله ستونزمنې بلل شوې، مهرلاک شوې، او ګڼو هټيوالو ته سپارښتنې ورکړل شوې چې خپل فعاليتونه د قانون سره سم تنظيم کړي.

د غزني ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظيم مدير ضياالرحمن "رشيدی" وايي چې دا ډول څارنې به دوامداره وي، او هغه کسان چې د خلکو له روغتيا سره لوبې کوي، د قانون له مخې به ورسره جدي چلند وشي.

همداراز، له ښاريانو څخه غوښتنه کوی چې د ښار د پاکوالي، روغتيا او نظم په برخه کې له ښاروالۍ سره خپله پوره همکاري وکړي.




د لښکرګاه ښاروال حافظ صديق صاحب په هدايت د لښکرګاه ښار د اته ګونو ناحيو ونې به لومړۍ ووينځل شي او وروسته به د شري او نورو امراضو د مخنيوي په موخه دواپاشي شي.

د لښکرګاه ښاروالۍ د تنظيف او سرسبزۍ د عمومي مدير محمد نسيم سحر په وينا نن مو د ابيارۍ مديريت ته هدايت وکړ چې د ښار د بېلابېلو برخو د ګلدانونو ونې ووينځي ترڅو په نږدې راتلوونکي کې د شري او نورو نباتي امراضو څخه د ښار ونې وژغورل شي.

سحر زياته کړه دا چاره د ښاروالۍ د کارکوونکو او ماشينرۍ په مټ ترسره کېږي ترڅو د ښار ونې د امراضو څخه خلاصې وي او د ښار ښکلا زيانمنه شوې نه وي.

يادونې وړ ده چې د لښکرګاه ښاروالۍ له لوري روان کال کې څه باندې پنځلس نيم زره ۱۵۵۰۰ نيالګي کېنول شوي دي.

هلمند ۹۱

### د ښاروالیو چارو سمون عمومي رئیس د کرماشي سړک بندي برخې څخه لیدنه وکړه



پکتیا ۹۲

د ښاروالیو چارو د سمون او انسجام عمومي رئيس مولوي محمد اسحاق اخندزاده، د ګرديز ښاروال او يو شمېر اداري کارمندانو سره د کرماشي سړک وروستۍ برخه، چې د همدې سيمې ميشتو استوګنو هديرې له امله بنده پاتې ده، ليدنه وکړه.

ګرديز ښاروال د همدې سړک وروستۍ برخې هديرې په اړه، اسحاق اخندزاده ته بشپړ معلومات ورکړل.

ښاروال وويل د سړک وروستۍ برخه ۱۴۰ متره اوږدوالی او ۳۰ متره پلنوالی لري، چې په مسير کې يې د سيمې ځايي اوسيدونکو د مړو دېرش قبرونه شتون لري.

ګرديز ښاروال وويل، د شريعت په رڼا کې د دې موضوع څېړلو لپاره، مرکزي دارالافتاء څخه په راليږل شوې فتوا کې ليکل شوي د مړو جسد د اثارو تر ختميدو پورې د قبرونو انتقال او د دې ځمکې څخه استفاده کول جواز نه لري.

د ښاروالیو چارو د سمون عمومي رئيس د سړک بندې برخې او هديرې ليدو پر وخت د مرکزي دارالافتاء د فتوا پر تطبيق او پر بديل حل لارې ټينګار وکړ.

### سروبي ولسوالی بازار کې د ښاري نظم د راوستلو په خاطر د کراچیو او فلزي غرفو انتقال



کابل/سروبي ۹۳

د سروبي امنيه قومندانۍ په مرسته او د سروبي ښاروالۍ پرسونل چې سروبي ښاروالۍ، ښاروال مولوي مطيع الله عابد يې ملتيا کوله د ښاري نظم د رامنځته کولو په موخه يې د ښاري نظم راوستو، پلو لارو خلاصولو او لاسي پلورونکو د تنظيم په موخه لاسي کراچۍ او فلزي غرفې چې پخوا د سروبي بازار چوک کې ايښودل شوې وې د حاجی مياه مارکيټ ته انتقال شوې.

د انتقال پرمهال د سروبي ښاروال مولوي مطيع الله عابد کراچيوانانو او غرفو لرونکو ته وويل؛ که ښاري نظم په پام کې ونه نيسي لاسي کراچۍ او غرفي به يې ضبط شي بيا حق د شکايت نه لري.

کراچيوانانو او د غرفه لرونکو ته د سروبي بازار حاجي مياه مارکيټ کې ځای انتخاب شوی او ټول به هلته په منظمه ډول ځای پر ځای وي، چې تنظيم د کراچيو او فلزي غرفو هم د ښاروالۍ د پرسونل لخوا ترسره شو.

د سروبي ښاروالۍ پرسونل هره ورځ د ښار په بېلابېلو ساحو کې د ښاري نظم د راوستو په موخه هڅې کوي.